ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتی هی احسن ۔ الایه

د توحید او جهاد مجله

دعوت

د افغانستان د جماعة الدعوة الی القرآن و السنة د افکارو خپرونکی

۳۹ گڼه

★ جماعة الدعوة په شروع کی طالبانو ته دا توصیه کړی وه چی د قدرت نیولو او با چاهی نیولو فکر دی پریږدي او دعوت إلی الله چی د دوی اصلي دنده ده خپله کړي.

★ مونږ د خپل ملك د بهبود او د صلح او امنیت د پاره کولی شو په افغاني خصوصیاتو خپل پروگرامونه جوړ کړو.
★ مونږ خارجیانو ته د دی اجازت نه ورکوو چی زمونږ په تشکیلاتي مسائلو کی مداخله وکړي. (انجینیر احمدشاه)



الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

«ولاتكونوا كالذين تفرّقوا واختلفوا من بعد ما جاءهم البينات و أولٰئك لهم عذابٌ عظيم»*

(آل عمران-۱۰۵)

ترجمه:یعني؛ ومباشید مانند کسانیکه پراگنده شدند و اختلاف کردند با یکدیگر پس از انکه امد به ایشان احکام واضح و آن گروه مرایشانراست عذاب بزرگ.

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: الشيخ سميع الله
خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد رياست

اووم کال پرله پسي گنه(٣٩) ١٤١٥ هـ ق کال د شوال المکرم، ذی القعدی او ذی الحجی مياشتی

دهيئت تحرير تر نظارت لاندى

دی گنی مطالب

* طالبان د ژورو تحولاتو .(سرمقاله)........................ ٢
* څانگه به نن سبا کی گل شي........................ ٦
* افغان مسئله........................ ٨
* د اسلام ستر فاتح........................ ١٠
* د انجنير احمد شاه سره مرکه........................ ١٤
* عدل او احسان........................ ١٧
* د فضل کريم «أيماق» سره مرکه........................ ١٩
* فقيد جميل الرحمن (شعر)........................ ٢١
* غوره ويناوی........................ ٢٢
* د صحابه ؤ ژوند........................ ٢٣
* د شکری ناروغي........................ ٢٧
* پرسشهای شما........................ ٣٠
* دنبوی ملغلرو اميل........................ ٣٤
* تنظيم طلبه راپور........................ ٣٧
* ستاسو ليك راورسيد........................ ٣٩

په پاکستان کی د
گډون بيه:
مياشتنی: ١٠کلداری
کلنی: ١٠٠کلداری

په نورو بهرنيو هيوادونوکی د
گډون بيه:
مياشتنی : ٢ امريکائی ډالر
کلنی : ١٠ امريکائی ډالر

په داخل او په پاکستان کی زمونږ
نمايندگان

په داخل کی : لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد :
پيښور : غنی الله «مسلم»
لاهور : حماد شاکر
کراچی : چوهدری ظهور احمد
کوټه : عرفان منگل
مظفر آباد : بشير قريشی

په نورو بهرنيو هيوادونوکی زمونږ
نمايندگان

سعودی عرب :
امريکا : عبدالرحمن احمد
بريطانيا : منور علی
جرمنی : وائی – ايم حميم
هالينډ : عماد الدين بکری اسماعيل

مکاتباتی پته :« دعوت مجله » - پوست بکس نمبر ٦١٤ پښاور پاکستان
بانکی حساب: افغان اسلامي خبری اداره – اکاونټ نمبر ٧-٦٣-١٠ –نيشنل بينك اف پاکستان صدر روډ – پښاور.

سرمقاله

طالبان د زورو ځوځولاتو په درشل کې

که څه هم د طالبانو په نوم تحريك د پخوانه موجودؤ خود سياسي او نظامي حضور له مخى ئى چادا اټكل نه كاوه چي يو وخت به د پاچاهى نيولو پسى را پاڅيږي او د يو غورځنګ په حيث به په ملك كى ستر سياسي او نظامي تحولات را منځ ته كړى.

دطالبانو دغه غورځنګ چي اوه مياشتى مخكى ئى د سياسى مبارزي دګرته راودانګل وائى چى شميره ئى د سلو كسانو څخه زياته نه وه خو هغه وخت ئى چى د جنرال بابر په حواله پاكستانى كاروان ته د لارى په خلاصولو او نا جايزه پاټكونو په لرى كولو سره په يرغل او فزيكي عملياتو لاس پورى كړ په يوه منډه ئى د قندهار د ولايت د سپين بولدك ولسوالى قبضه كړه او د فتوحاتو لومړى جنډه ئى په همدى ولسوالى جګه كړه.

كه څه هم د طالبانو په دى درز سره نړيوالو مطبوعاتو څه ناڅه تبصرى وكړى او دغه ځواك ئى د ناخوالو په مقابل كى يو مثبت بديل وباله خو ورسره جوخت چى د قندهار په ولايت ئى هم قبضه وكړه او د لارى پاټكونه ئى لرې كړل د ټولو افغانانو د توجه او حيرانتيا وړ خبره شوه دغه وخت ؤ چى د طالبانو د ماهيت او هويت په باره كى تبصرى شروع شوى. چا ويل چى نيغ په نيغه د پاكستانى مقاماتو د بابر او مولانا فضل الرحمن سړى دى او چا هم ادعا كوله چى د پخوانى نظام عسكرى ماهران او افسران ور سره ګډ شوي او د غرب په ډالرو او وسايلو سره اكماليږى.

دا خبرى لا سپينى شوى نه وى چى غورځنګ نور هم زور واخيست او په جنوبي ولاياتو كى د فتوحاتو تحركات ورځ په ورځ زياتيدل تر څو چى په چار اسياب كى ئى هم جنډه ودروله او د كابل د نيولو اخطاريه جملى ئى استعمال كړى. په كابل هم ور ننوتل او د ټولو مخكى يى د حزب وحدت ډله بى وسلى كړه او په دى كشمكش كى استادعبدالعلي مزارى هم ووژل شو. د قندهار، هلمند، زابل او غزني په ولاياتو كى چى طالبانو د جهادى تنظيمونو كوم لوى لوى قوماندانان بى وسلى كړل هغه وخت تنظيمى مشرانو ته هم د

غورځنگ د ځواکمنی پته ولگیده ځکه نو په همدی وخت کی د مولوی تره خیل نه نیولی بیا تر مولوی خالص پوری ټولو د طالبانو عملیات جایز او معقول وبلل خو د تحریك دپوره څرنگوالی ټکی ئی مجهول پریښود.

د ټولو نه ړومبی مولوی محمد نبی محمدی د طالبانو په غورځنگ د صحت ټاپه ووهله خو هغه وخت چی ئی دخپل یو لوی قوماندان د هلمند والی غفار اخنزاده په باره کي د طالبانو مشرانو ته مکتوب ولیږه چی د یو سوچه جهادی قوماندان په حیث ور سره معامله وکړی او بی وسلی ئی نکړی نه یوازی دی مکتوب هیڅ اثر ونکړ بلکه یو کلاشنکوف ئی هم ورته پری نښود او داسی یی څرگنده کړه چی طالبان د یو مستقل او بي طرف غورځنگ په توگه عمل کوی او د هیڅ تنظیم سره ملگرتیا او ایتلاف ته تیار نه دی. اکثره مشرانو ور سره رابطي قطع کړی او په پوره احتیاط سره ئي د طالبانو په باره کی په شمارلو او تللو جملو سره دطالبانو د غورځنگ پیژندگلوی کوله چي اکثرو رهبرانو د سوچه افغاني او اسلامي غورځنگ په نوم یاد کړ خو ځینو بیا په صفا ټکو کی د غورځنگ د گوډاگیتوب خبره وکړه او د وسلي د نه تسلیمولو فیصله ئی اعلان کړه چی دی ډله کی یو هم ښاغلی حکمتیار ؤ چی د غورځنگ سره په لاس اچولو ئی سیاسی او نظامي پوزیشن ورخراب کړ.

د یوی احصائی مطابق د طالبانو غورځنگ یو وخت د ۲۹ ولایاتو څخه لس ولایتونه په بشپړه توگه په خپله ولقه کی راوړی وو خو دمرکز په نیولو کی د کابل دحکومت سره په مقابله کی د ماتی سره مخ شو، تر دی وخته پوری چی طالبانو کوم ولایتونه نیولی دی د خپل رعب په غورځولو سره ئی د یوی معجزي په شان تلفات نه لرل او د سپین بولدك نه تر چار اسیاب پوری ور سره تمام عیار جنگ نه وو شوی ځکه نو ئی ځان ته د ناشکن خطاب کاوه او د ټولو ولایاتو دنیولو دپاره ئی په همدی تکل او میکانیزم سره دوام ورکول غوښتل خو په کابل کی چی د حکومتي ځواکونو سره په جگړه کی یی کومه ماتی و خوړه او د چا خبره دریز نه ولویدل نه یوازي په جنگ کی د اخته ډلو اتحادونه مات او کمزوری شول بلکه د نورو ډول ډول سیاسی واقعاتو او ژورو تحولاتو یو نوی باب ئی هم پرانیست.

د هم آهنگی عالی شورئ چی د اتحاد او ملگرتیا په پخو قراردادونو جوړه شوی وه د طالبانو غورځنگ که دړی وړی نه کړه نو لږ تر لږه واټن خو ئی پکی منځ ته راوړ چی رشید دوستم په مزار شریف، حکمتیار په سروبي او د حزب وحدت او جنبش یوه ډله ئي د یتیمانو په حیث د کابل د حکومت په محاصره کی حیران دریانه پریښوده او په پای کی تارومار هم شوه.

دا چی اوس د طالبانو د غورځنگ دجنگی کسانو شمیره څو ته رسیدلی ده پوره احصایه ئی نشته دی خو

په ځينو رپوټونو کې ديرش زره تنه بندولی شوي دی.

هغه وخت چې طالبانو د چار اسياب په ولسوالۍ کې جنده و دروله ددعوت خبريال په کابل کې ؤ چې د قندهار او پکتيا د لوی لارې په خلاصيدو سره د ارزانۍ او پريماني يو نوی دور شروع شو، د افغاني پيسو په ارزښت کې په سلو کې څلويښت او د خوراکې شيانو په بيو کې په سلو کې پنځوس ټيټوالی راغي او د کابل د محاصره شوي او کلابند ښار په اوسيدونکو کې نوی ساه و چليده.

د ټولو نه مهمه خو دا وه چې په کابل باندې د جنوب له طرفه د راکټونو اوريدل هم بند شول او په دوه دري ورځو کې په ټولو هغه ممنوعه علاقو کې د خلکو تګ راتګ شروع شو چرته چې د جنګونو په دروان کې مچان هم نشو ګرځيدلی.

حکومتي مقاماتو هم د خپل اصلی مخالف حکمتيار په ماتيدو د سختی خوشحالۍ اظهار کاوه او د حزب وحدت د ځپلو د پاره ئی نظامي ترتيبات نيول.

کابل ښاريانو ددې ټولو سهولتونو او مثبتو تحولاتو عامل د طالبانو غورځنګ باله او داسې ګنګوسې هم وې که چيرې طالبان او حکومت سره مواجه شي مونږ به د طالبانو د اصلاحي پروګرامونو په عملياتو کې ور سره ملاتړ کوو خو اوس چې دا کار شوی دې طالبان بيرته د کابل نه په زور سره وايستل شو او ددې تحريك د ځپلو د پاره ټول امکانات په کار اچول شوی دی وليدل شي چې عوام الناس عکس العمل به څه وی او اوس ور باندی تبصره کول د وخت نه مخکې خبره ده.

ما چې په کابل کی د جمهوری رياست د وياند او د مطبوعاتي دفتر د رئيس عزيز مراد نه پوښتنه وکړه چې طالبانو ته د وسلې د ورکولو په باره کی د دولت تصميم څه دی؟ په صفا ټکو کی ئی وويل دولت د کابل او په کابل کی د وسلې ورکولو خبره رد کړی ده که چيرې طالبان غواړی وسلې ټولی کړی او يا نور اصلاحي پروګرامونه عملی کړی د اسلامي دولت ددفاع د وزارت په چوکاټ کي دی زمونږ سره همکاری وکړی.

ده وويل چې دلته د وسلې د ټولولو کمپاين لا د مخه شروع شوی دی او هغه څه چې طالبان يې غواړی هغه اسلامي دولت هم د خپل کار په اجندا کی شامل کړی دی. ده دا هم وويل چې طالبان دې داسی فکر نکوی چې کابل به هم لکه د قندهار په شان په احساساتو او جذباتو سره ونيسي دلته ځواکونه پراته دی او د منظم سيستم لاندي دفاع کولی شي.

د کابل د ښاريانو هغه پيش بينی چې ويل به يي د تل دپاره د راکټ باران څخه خلاص شو اوس د طالبانو او دولت تر منځ جګړی شروع شوی او لا رواني دی.

دا چی طالبان کابل نیولی شی او که نه؟ دا له وخت څخه وړاندی خبره ده مګر اوسني نظامي حالات داسی پرېښوی چی د طالبانو عسکری قوت د کمزورۍ سره مخ دی مګر بیا هم د آینده لپاره دا عمل د قوأو په توازُن پوری اړه لري خو په دی منځ کي چی د ملګرو ملتونو د خاص استازی ښاغلی محمود مستیري د صلحي د پروګرام نه کومه امیدواری کیده هغه په وروستیو تحولاتو کی د ادغام په حالت کی ده او په دی لړ کی چی څومره مندی تړړی او مشورتی جرګی او مصارفات شوی دی هغه ټول په اوبو لاهو شول او اوس صرف د نظامي مقابلی په بنسټ د زورور او کمزوري یا غالب او مغلوب خبره مطرح شوي ده.

تر کومه ځایه چی د عامو افغانانو نظریات او غوښتني دي هغه دادي چی د ټول ملت په موافقه دی یو اسلامي حکومت جوړ شی، سپکه او درنه وسله دی د مرکزی حکومت ددفاع وزارت ته حواله شی، تنظیمي اړیکي دی ختم کړی شی او د افغانستان د خاوری د تمامیت په خوندی ساتلو سره دی ټولو ملیتونو او قومونو ته په حکومت کی ونډه ورکړی شی او د ملت رائی ته دی احترام وشی او ټول ملت دی په یوه چغه په اعمار او بیا ودانولو پیل وکړی. تر کومه حده چی د جماعت الدعوة مؤقف دی دا پخوا هم په ډاګه شوی دی، جماعة الدعوة خیر او نیکو ته د بلني جماعت دی او دداسي جماعت په موجودګۍ الله تعالی په قرآن شریف کی اصرار کوی او فرمائی: «ولتكن منكم أمة يدعون إلى الخير .....) په شروع کی طالبانو ته دا توصیه کړی ده چی د قدرت نیولو او باچاهۍ فکر دی پرېږدی دعوت إلى الله چی ددوی اصلي دنده ده خپله کړی، د عقایدو تصحیح اوداخلاقو اصلاح ته دی توجه وکړی او د اسلامي دولت سره دی مسائل د خبرو او تفاهم له لاری حل کړی. چی د افغانستان زوریدلی مسلمان ملت نور د کړاوونو سره مخ نه شی. اوس هم ددی وخت دی چی ټول جهادی او مسلمان ځواکونه لکه د ورونو پخپلو کی د تفاهم معقوله لاره خپله کړی او رواني کشالی د اسلامي اخوت په فضاء کی حل کړی.

ومن الله التوفيق

ځانګه به نن سبا کې ګل شي

ما ئې په سر کې سرې غوټې ليدلې دينه

ګران لوستونکي خبر دي چې دوه کاله وړاندې يعنې د ۱۳۷۱هـ ش کال د ثور د مياشتې په اتمه نيټه د نجيب کمونيست حکومت د افغان مجاهد ولس د بې کچو سربښندنو او بې سارو مبارزو په اساس دړې وړې او د حکومت واګې د مجاهدينو لاس ته ورغلې. د ټولنيزو او طبيعي پېښو څېړونکي عقيده لري چې کله په يوه ټولنه کې د داخلي کشمکشونو په اساس کوم ژور بدلون را منځته کيږي نو د زاړه نظام سلطه او سيطره په کامل ډول له منځه نه ځي بلکه د زاړه نظام بقاياوې په قاطعيت او حتميت سره خپل نه پاتې کيدونکي ژوند د بڅاوُ لپاره په يوه شکل د اشکالو لاس او پښې وهي. ټولن پيژندونکي او د ټولنيزو پيښو څارونکي په ټولنيزو بدلونونو او انقلابونو کې دغه مرحله ډيره حساسه او اساسه بولي چې سنبالول او قابو کول ئې ډيره زيرکتيا او متبحره پوهه غواړي.

څيړونکي وائي چې که د نوي تخليق شوی نظام پدې مرحله کې د زاړه نظام د پاتې شوو لپاره دودې او تکثر زمينه برابره شي، نو هغوی خپل فعل او انفعالاتو ته ادامه ورکوی او د خپلو هم نوعو دودې او تکثر عمليه فعاله ساتي، پدې حساسه او اساسه مرحله کې څرنګه چې د نوی نظام اعضاء او اجزاء په خپلو نوو مواقفو کې عدم استحکام لری، پدې اساس په نړۍ کې چې څومره انقلابونه بري ته رسيدلي، له بريالیتوب نه وروسته سملاسي د زيرپرزو تر ضربو لاندې له منځه تللي، البته هغه اسلامي انقلاب چې د سردار کونين صلی الله عليه وسلم اود هغه د مخلصو ملګرو په لاربښودنه سرته ورسيد له دې امر نه مستثنئ ځکه ده چې د هغه لاربښودنه په مستقيمه توګه د کائناتو د رب پلاس کې وه او بس، نور د نړۍ په تاريخ کې داسې بيلګه څوك نه شي وړاندې کولای چې په هغه کې دی تر برې وروسته کوږوالی او بې لاری نه وی راغلي(!)

په ګران هيواد افغانستان کې هم د زاړه کمونيست رژيم بقاياوُ د خپل شرميدلی ژوند بچاو لپاره په شکل د اشکالو داسې لوبې وکړې چې په نتيجه کې ئې د روس او د هغوی پلاس کنډواله شوی افغانستان د خاورو په ډيرې بدل شو، خصوصاً د کابل ښکلی ښار چې د دنيا متمدنو ښارونو سره په سيالۍ کې ؤ او اوس په دغه دوه کلونو کې په يوی وحشتناکې دشتې بدل شوی دی.

د ۱۳۷٤هـ ش کال په درشل کې الله تعالی په غيبي توګه داسې وسايل او شرايط برابر کړل چې د هغو په رڼا کې د افغانستان له اسلامي دولت نه د مسلمان او مجاهد ولس په زړونو کې دا هيلې ټوپونه وهي چې:

«ځانګه به نن سبا کې ګل شي * ما يې په سر کې سرې غوټۍ ليدلې دينه»

د لوی الله په فضل سږکال د ثور له پنځمي نیټې څخه تر اتمې نیټې پورې د افغانستان د اسلامي دولت له خوا په مرکز او ولایاتو کې جشنونه او د خوښیو څرګندوني سرته ورسیدې.

سره له دې چې ددې جشن د مراسمو په پروسه باندې د ځینو اشخاصو او محافلو له خوا نیوکې هم وشوې، خو په حقیقت کې دا د خوښۍ مراسم ددې لپاره سرته ورسیدل څو اسلامي دولت خپلو خلکو ته داډ ورکړي چې پس لدې به انشاء الله د دولت او ملت پام د جنګونو او ورانۍ پر ځای د عمران لور ته وي.

اسلامي دولت خپلو خلکو ته داډ ورکړ چې پدې لږه موده کې یعنې په کابل باندې د راکټونو له بندیدو وروسته دولت و- توانید چې د خپل سرو او بې قانونه ملیشو قطعات کوم چې په خپل وخت کې هغوی هم د یو ضرورت په بناء تشکیل شوی وو، په اسلامي اردو کې منظم او منسجم کړي.

د ښار امنیت په لږ وخت کې قایم او د استحکام لپاره یې لازم تدابیر نیولې شوي، د ښار د امنیتي کمر بند چې په لویدیځ او جنوب لویدیځ او جنوب ختیځ سیمو کې سره شلیدلی ؤ، هغه یې محکم او د اتحاد اسلامي او حرکت اسلامي او جمعیت اسلامي د ځواکونو په نه شلیدونکي ځنځیر یې کلک وتاړه.

همدا وجه ده چې نن ډلې ډلې مهاجر شوی خلک د خپلو کورنیو سره بیرته خپلو پریښودل شوو کورونو ته ستنیږي او د خوښیو څرګندونې کوي، په پل باغ عمومي، منډې، جاده میوند، شاه شهید، قعلچه، بیني حصار، کارته نو، قعله زمان- خان، ده خدایداد، قعله احمدخان، زړو او نوو میکرویانونو، یکه توت، هود خیلو او نورو سیمو کې نه یوازې امنیت ټینګ شوی بلکه د بیا ودانولو کارونه هم پیل شوي. هغو خلکو چې د نورو په کورونو او سیمو کې محرومیتونه او ستونزې لیدلې په ډیر شوق او دوق او د مادي امکاناتو له نه موجودیت سره لګیا دي د خپلو ړنګ شوو او چور شوو کورونو په بیا رغونه کې په خپلو متو زیار کاږي او پدې امید دي چې ګوندې بیا یې څوک له خپله کوره تیښتې ته اړ- نه باسي، بیا یې څوک کورونه د توپونو او راکټونو په اور ونه سوزوي.

پوهنتون او ښوونځي له ډیرو ستونزو سره سره بیا فعال شوي ، د وزارتونو مامورین او د پوهنتون او ښوونځیو استادان، محصلین او زده کوونکي په ډیره مینه د خپلو وظیفو او کار ځایونو خوا ته روان او زړونه ئې له ډیرو هیلو نه مالا مال دي او کله چې یو له بل سره مخ کیږي د روغبړ په ترڅ کې دا دعا تکراروي چې الله تعالی دې د مشرانو تر منځ اتحاد او ورورولي قایمه کړي الله تعالی دې زمونږ له خیر سره په ملك کې یو اسلامي امنیت قایم کړي چې هر څوك په خپل ژوند ژواك و پوهیږي، الله تعالی دې دشهیدانو، یتیمانو، کونډو او معذورانو ارمانونه پوره کړي، الله تعالی دې بیا داسې ویجاړونکي شرایط نه راولي چې بیا خپل کورونه پریږدو او خالي د خپلو سرونو د بچولو په فکر کې شو او کله چې سره جدا شو نو دواړه سره امین ووایو او سره رخصت شي.

مونږ پداسې حال کې چې له خپلو دغو ورونو سره همدعاء کیږو زیاتوو چې پر قرآن او سنت عمل کول زمونږ د ټولو مسلمانانو د دنیوي او اخروي سوکالۍ ضامن دی، په قرآن او سنت عمل کول هغه ګټور قدم دی چې هم اسلامي دولت ته اسلامي امت د خدمت کولو موقع برابروي او هم اسلامي امت ته د خپل اسلامي دولت په سیوري کې ځانونه سعادتمن او پتمن ښکاري، الله تعالی دې مونږ ټولو ته په قرآن او سنت باندې د عمل کولو توفیق را په برخه کړي. آمین!

افغان مسئله یوازې په بین الافغاني تفاهم حل کیدی شی.

په کابل کی د دعوت خبریال

څه د پاسه یو نیم کال پوره کیدونکی دی چي په افغانستان کی د جنګونو د بندولو سراسری صلحي د ټینګولو او ملت ته د قبول مؤقت عبوری حکومت د جوړولو د پاره د ملګرو ملتو پښه ور داخله شوي ده او د موسوریش موتورس نه وروسته چي کومه کامیابی یی تر لاسه نکړه ان تردی پوری چی د افغان لانجي نه ووت او په صفا ټکو کی یی استعفی اعلان کړه او افغان جهادی مشرانو ته ئی د وسله والو دکتاتورانو خطاب وکړ او په خپله مخه لاړ. د اکثره افغانانو فشار دا وو چی افغان کشاله باید د ملګرو ملتو په وساطت سره حل و فصل شی، اور بند وشی او د ټولو جهادی ډلو نه جوړ شوي حکومت منځ ته راشی، که څه هم په دی لړ کي د ملګرو ملتو سازمان چی په حقیقت کی د هغی ریموند کنټرول د امریکی په لاس کی دی او د خپل سیاسی عظیم مقصد یعني روس د دړی وړی کیدو نه وروسته یي علاقه نه درلوده چی د افغانستان حالات د نظارت لاندی ونیسی او د جوړ جاړی د پاره پکی کوم کردار ادا کړی خو بیا هم د نړیوال منشور او سیاست له مخي چي افغانستان د ملګرو ملتو یو پخواني او فعال غړی دی ښاغلی بطروس غالي د بینن سیوان او مشوریس نه وروسته د تونس پخواني خارجه وزیر د یو مسلمان په صفت د افغانستان دصلحي د خاص استازي په نوم مسمی او سیمی ته ئی راولیږه ، دغه وخت وو چی د ملګرو ملتو لاس وهنه او وساطت عملاً شروع شو او افغانانو ته ددي امید پیدا شو چي ګنی په افغانستان کی دجنګ بندی بدیل هم منځ ته راغي.

ښاغلی مستیري په لومړی سر کی د هیواد ټولو ولایاتو ته لاړ، د عامو افغانانو سره ئی د مرکو د لاری اعلان وکړ چي د هیواد مطلق اکثریت غواړی چی لانجه د لوی جرګی د لاری حل شي خو په دی کار کی هم یو شمیر تنظیمي مشرانو او سیاسی ډلو د ملاحظاتو خبري شروع کړی او دلوی جرګی میکانیزم جوړول ورته په جنګی ماحول کی سخت کار ؤ ځکه نو خاص استازي په خپل صلاحیت په غرب کی د یو شمیر افغانانو په ګډون د کویټی د مشورتي جرګی په جوړولو سره اعلان وکړ چی همدغه د صلحي د اغاز په حیث یوه غوڅه وسیله ده خو په دی منځ کی په سملاسي توګه د طالبانو دغورځنګ را پیدا کیدلو او په سرعت سره د څو ولایتونو په نیولو سره یی د خاص استازي ټولی هغه ګنده کړی طرحي باطلي کړی چی د استاد ربانی څخه ئی یوی عبوری شوری ته د قدرت د انتقالولو نیتی او ضرب الأجلونه ټاکل.

په تیره بیا هغه وخت چی طالبانو د حزب اسلامي پوزیشن خراب کړ او په چار آسیاب کی د فتحي جنډه و- درولِه او څو ورځي وروسته کابل ته په داخلیدو ئی د هم آهنګی د شوری یو بل متحد قوت حزب وحدت تار ومار کړ، محمود مستیری د طالبانو خوا ته مخه کړه او په مسئله کی د یو مهم

ځواك په حيث نئ د طالبانو سره مشورې پيل کړې خو هغه وخت چې طالبانو هم د توقع خلاف ماتي وخوړه او د کابل حکومت دفتحي په ميدان کې خپل موقعيت تثبيت کړ طبعي خبره ده چې په خبرو او فيصلو کې د امتيازاتو غوښتونکې شو.

اوس چې د ملګرو ملتو د خاص استازي او دصلحي دپاره نور په ګڼ شمير کميسيونونه د ميدان څخه وتلي دي او جوړې کړې طرحي يې د وروستيو سياسي او نظامي تحولاتو په لړ کې بې اغيزې شوي دي ښاغلی مستيري هم غواړي په څه بهانه ددې رسالت مند او درونډ ماموريت څخه پښې سپکې کړي او د پروګرام ناکامي په افغانانو واچوي.

همداسې وشول ښاغلي مستيري چې د قدرت د انتقال په برخه کې د کابل حکومت دسياسي تجريد او انزوا لپاره کومه اعلاميه صادره کړې وه ددې خبري ثبوت دی چې ده و نشو کولی د ملت د ارادې سره سم د جهاد د اهدافو په رڼا کې د قدرت د انتقال د پاره کومه معقول او قناعت بخښونکي ميکانيزم جوړ کړي ځکه نو اوس غواړي د لفظي او سياسي مشاجرې د لارې خپل مسؤليت په افغانانو واچوي.

اکثره عالمانو او مجربو افغانانو درې کاله پخوا دا خبره کوله چې تر څو افغانان په خپله په خپلو منځو کې جوړ جاړې ته ونه رسيږي هيڅ بهرنې هيئت او منځګړې افغاني لانجه نشي غوڅولی خو اوس عملاً دې خبري مصداق پيدا کړې چې د ملګرو ملتو د صلحي ځانګړې استازي يو نيم کال واخيست خو د حل هيڅ لاره ئې پيدا نکړه.

افغان مشرانو او قومي نمايندګانو د ملګرو ملتو د سازمان څخه هميشه دا تقاضا کړې ده چې د افغانستان څخه دې پردې خصمانه لاسونه لنډ کړې شي او تر څو چې خارجي لاس وهني نه وي بندې شوي د صلحي د تامين د پاره هيڅ امکانات نشته دي خو نه يوازي ملګرو ملتو په دې خبره تر اوسه څه غوږ نه دی ګرولي بلکه د بين ا لافغاني تفاهم لارې ته ئې هم دپ اچولې دي.

نتيجه دا شوه چې ښاغلی محمود مستيرې کابل حکومت ته اخطارونه ورکوې او د يوې سياسي مشاجرې په حيث د افغاني ځواکونو تر منځ د تاؤ تريخوالي زياتيدو ته لا پسي لمن وهل کيږي.

د ښاغلي مستيري د قدرت د انتقال او د مؤقت حکومت د جوړيدو ټولې وعدې تيرې شوي جنګونه د پخوا په شان جاري دي خو خاص استازي ددې په ځای چې د پخواني خاص نماينده په شان استعفی وړاندې کړي او په خپلې ناکامۍ اعتراف وکړي د سياسي کلابندۍ چلنجونه ورکوي.

د جماعت الدعوت الی القرآن والسنت د نظره چې د همغه پيل نه ئې د ملګرو ملتو د صلحي د پلان په عملي کيدو باور نه درلود او په کراتو سره يې دا خبره کړې ده چې په هيواد کې د قرآن او سنت د حاکميت نه بغير نه انتظاميه جوړيدی شي او نه جنګونه بنديدی شي ځکه نو پکار دي چې د جهادی مشرانو، عالمانو او جهادي صادقو قوماندانانو څخه د يوې جوړې شوي شورا په ذريعه دغه ارمان تر سره شي او د څوارلس کلن وسله وال جهاد او د يونيم مليون شهيدانو په وينو ګټل شوی انقلاب متحقق شي.

اوس هم فرصت د لاسه نه دی وتلی دولاياتو او ولسواليو نيول او د نظامي مقابلې د لارې فتحه د اسلاميت او انسانيت نه يو خلاف عمل دی دا امکانات لا شته دی چې ټول جهادی قوتونه د جنګونو د ترخو نتيجو څخه په عبرت اخستلو سره بين الأفغاني تفاهم ته کيني او په اسلامي طريقه د بحران په حل کې خپل مخکښ توب او قابليت ثابت کړي.

جماعت الدعوت د خپل دريځ په اساس حاضر دی په دې لړ کې د خپل توان سره سم د اسلامي حکومت د جوړيدو دپاره خپل ټول امکانات په کار واچوي او د اسلامي أخوت په اصولو مبنی يو داسې حکومت جوړ شي چې په اسلامي او جهادي اصولو ولاړ وي او په ټوله معنیٰ د غربي تحريکاتو څخه په آمن ئې وي.

د اسلام ستر فاتح حضرت عمر فاروق

(رضي الله عنه)

بشير الله «تراب»

الله تعالى محمد صلى الله عليه وسلم د خپل دين د عروج او اشاعت لپاره دنيا ته راستولى ؤ او محمد صلى الله عليه وسلم د خپل مبارك ژوند تر ورروستي سلگي پورې د خپل رسالت بوج او مسؤليت په ښه شان او پوره امانت دارۍ سرته ورساوه. رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل ژوند څخه د وروسته وختونو لپاره ددې دين د ترويج او اشاعت لپاره سر تيرې ملگرې روزلي وو چي امت مسلمه د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دغو سر تيرو ملگرو ته د صحابه كرامو لقب وركړى دى. د نبي كريم صل الله عليه وسلم له رحلت وروسته د اسلام د مبين دين د اشاعت او دعوت ذمه وارى د هغه صلى الله عليه وسلم دغو ملگرو ته په ميراث پاتې شوه.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم دغو ملگرو په يو سالم هوش دا ضرورت احساس كړ چي د الله تعالى ددين د اشاعت لپاره يوه منظمه اسلامي اداره جوړه كړي، تر څو دغه اسلامي اداره د اسلام دين او مسلمانانو ته قوت وركړي او د الله تعالى دين مخ په وړاندې لاړ شي. كله چي صحابه كرام ددغي اسلامي ادارې په جوړيدو وتوانيدل، ددې ادارې په سر كې يې حضرت ابو بكرصديق رضي الله عنه ددې ادارې امير وټاكه او دمسلمانانو لومړنى خليفه شو. حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د خپل خلافت په دور كې د اسلام ددين داشاعت او د مسلمانانو په ښه شان خدمت وكړ او له رسول الله صلى الله عليه وسلم وروسته يې خپل مسؤليت په پوره ايماندارۍ او ميړانه سرته ورساوه. كله چي حضرت ابو بكر-صديق رضي الله عنه د خپل ژوند وروستي مرحلې محسوس كړې د اسلامي خلافت دچلولو واگې يې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته وسپارلې. ددې نه وړاندې چي حضرت عمر فاروق د خلافت او حكومت د دور په بحث قلم پورته كوو، ښه به دا وي چي دده په پيژندنه دا بحث مزين او سينگار كړو.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د هغو صحابوٌ له جملې څخه دى چي الله تعالى ورته په دنيا كې د جنت زيرى وركړى دى، دا هغه صحابي دى چي الله تعالى دده په وجه د اسلا دين ته قوت وركړ او د اسلام ددين

دعوت په ډاګه میدان ته راووت.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د اسلام ددین او د محمد صلی الله علیه وسلم په دفاع کولو کی د سرومال دواړو قربانی ورکوونکی انسان ؤ او په دی لار کی یی له هیڅ ډول قربانۍ څخه ډډه نه ده کړی.

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د نسب شجره:

حضرت عمر رضي الله عنه د خطاب ځوی، خطاب د نفیل، نفیل د عبدالعزی ، عبدالعزی د ریاح، ریاح د قرط، قرط د رزاح، رزاح د عدی، عدی د کعب او کعب د لوی ځوی دی. دده نسب دمحمد صلی الله علیه وسلم سره په عدی بن کعب کی یو ځای کیږی. د حضرت عمر رضي الله عنه د مور بی بي نوم ختتمه بنت هشام بن مغیره دی چي د خالد بن ولید د تره لور وه. عمر رضي الله عنه په الفاروق، العدوی، القریشي او امیر المؤمنین لقبونو ملقب دی او کنیه یی ابو حفص ؤ.

عبدالله، عبدالرحمن الاکبر، عبیدالله، عالم، زید او عبدالرحمن الاوسط رضي الله عنهم د حضرت عمر رضي الله عنه زامن دي. حضرت حفصه (ام المؤمنین) فاطمه او روقیه د حضرت عمر رضي الله عنه لوڼه دي.

له اسلام څخه وړاندي د عمر رضي الله عنه ژوند:

حضرت عمر رضي الله عنه دفیل په (۱۳) کال چی (۵۸۲) میلادي کال سره سمون خوری په مکه معظمه کی د خطاب په کور کي سترګی غړولی دی. عمر رضي الله عنه په قریشو کی یو شریف انسان او د لوړ قد او غنمي رنګ څښتن ؤ، د شجاعت او بهادرۍ سره سره د ټینګ عزم او شهرت لرونکی ؤ، په کوچینوالی کی ئي ګډي بزی څرولي او وروسته بیا ددغي سیمی یو ښه تجار ؤ.

حضرت عمر رضي الله عنه یوه ورځ د خپلو نورو ملګرو سره د «ضیحان» په نوم یو ځای باندی تیریده، خپلو ملګرو ته یي وویل چی یو وخت داسی هم ؤ چی په دی ځای کی به ما ګډی او بزي څرولی او کله کله به می لرګی هم راوړل، اوس زه الله تعالی د ټول مسلمان ملت خلیفه جوړ کړی یم او په سر مي پرته له الله تعالی نور هیڅوك د پاسه نشته.

محدثینو او علماء کرامو د حضرت عمر رضي الله عنه د اسلام د راوړلو په باب ډیر روایات نقل کړی دی، ددی ټولو نه داسي څرګندیږی چی عمر رضي الله عنه اسلام په یو وار نه دی راوړی بلکی په تدریج سره په اسلام مشرف شوی دی هغه حدیث چی دده د اسلام د راوړلو په باره کی پری د اکثره علماؤ اتفاق دی، ابن سعد، ابو یعلی، حاکم او بیهقی یی په الدلائلکی د حضرت انس رضي الله عنه څخه نقلوي وايي.

یوه ورځ عمر رضي الله په داسي حال کی چی توره یی له قاشه ویستلی وه له کوره راووت، په لاره کی د یو سړی چی (نعیم بن عبدالله العدوی نومیده او یا د نورو روایاتو په قول دا سړی یا د بني زهره او یا د بني مخزوم د قبیلی ؤ) په هر صورت مخ شو، دغه سړی عمر ته وویل چی چیرته او په څه قصد روان یی؟ عمر ورته وویل: غواړم چی محمد (صلی الله علیه وسلم) ووژنم! هغه سړی ورته وویل: که ته محمد (صلی الله علیه وسلم) مړ کړی نو ته به د بنی هاشمو او بنی زهره ؤ نه په امن پاتی نه شی! عمر وویل زه داسی څوك نه وینم چي ما مړکړی مګر ستا له خبرو نه داسی معلومیږی چی ته صابی شوی یی!

(خپل دین دی پریښي او د محمد دین دی اختیار کړی) هغه سړي ورته وویل زه به دی دیوي بلی عجیبه خبری نه خبر کړم او هغه دا چی ستا خور او ددی خاوند صابیان شوی دی. عمر رضي الله عنه ډیر په غصه د خور کور ته راغي، چی په دی وخت کی دوي په کور کي حباب بن الارت رضي الله عنه ناست ؤ چی دوي ته ئی قرآنکریم لوسته. کله چي حباب بن الارت رضي الله عنه د عمر رضي الله عنه په راتگ پوه شو نو په دغه کور کی پټ شو، عمر راغي دروازه یی ووهله او کور ته داخل شو، خور او اووښي ته یی وویل چی لژة شیبه وړاندی غلي غلي آواز د چاؤ؟ دوی په څواب کی ورته وویل مونږ خو خبري نه دی کړی! عمر ورته وویل ما ته داسی ښکاری چي تاسي خپل دین پریښي دي او صابیان شوي یاست. هغوی ورته وویل: که چیری ددی دین نه چی ته یی یادوي بل بر حق دین وی نو سمه ده چې مونږ صابیان یو! عمر رضي الله عنه ددی خبری په اوریدو سره دومره غصه شو چی خپله خور او اووښي یی دواړه ووهل، خور یی په داسی حال کی چی وینې تری بهیدی په غصه کی عمر ته وویل: اي عمره! که چیرته حق ستا ددین نه په بل دین کی وی مونږ هم هاغه د حق دین قبول کړي دی او د «لا إله إلا الله و أن محمداً عبده و الرسوله» گواهي یی د عمر په وړاندی وکړه. عمر چی په دی وخت کی د خور حالت ولید نو زړه یی پری وسو او حیاء ورغله او پخپلو کړو پښیمانه شو.

لژه شیبه وروسته یی خور ته وویل هغه پاڼه چی تاسی لوستله هغه ماته راکړئ چي زه یی ولولم! خور یی ورته په څواب کی وویل چی عمره! ته ناپاك یی! او دا هغه قرآن دی چی په ناپاکۍ سره یی لمس نا جایز دي. تر څو چی تا غسل نه وی کړی نو دا نشم در کولای. عمر ته یی له غسل وروسته د قرآن پاك دغه نسخه چي سورت «طٰه» پکی لیکلی شوي ؤ ورکړه، عمر چی تر دی آیت «إنني أنا الله لا إله إلا أنا فاعبدني و اقم الصلوة لذکری» (طٰه-١٤) ولوست نو ویی ویل: څومره ښایسته، عزتمند او برکتناك کلام دی اوس ماته محمد (صلی الله علیه وسلم) وښایاست چی هغه چیری دی؟ د عمر ددی خبري په آوریدو حباب بن الارت د عمر خواته راغي ورته یی وویل: اي عمره! زیری می. درباندی! زما امید دی د پنجشنبي په شپه چی محمد صلی الله علیه وسلم ستا او د عمر بن هشام (ابوجهل) په هکله کومه دعا کړی وه، شاید چی ستا په حق کي قبوله شوی وی. عمر او حباب رضي الله عنهم دواړه د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د هستوگني هغه کور ته چی په اصل کی د ارقم ؤ او د صفا د غونډی په منځ کی واقع ؤ ورسیدل دروازه یی ووهله، یو سړي را پاڅید او د دروازې په چاود کي یی وکتل څه گوری چی عمر توره په لاس د دروازی مخکی ولاړ دی. هغه سړی رسول الله صلی الله علیه سلم ته خبر ورکړ، په دی وخت کی د رسول الله (صلی الله علیه سلم) ملگرو گنه گونه جوړه کړه. حمزه رضي الله عنه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره او دري ورځې وړاندی ئی ایمان راوړی ؤ وویل: دروازه ورته خلاصه کړئ! که د عمر اراده د خیر وی اسلام به قبول کړی او که اراده یی غلطه وی مړ به یی کړو. په دی وخت کی رسول الله صلی الله علیه سلم د وحي په انتظار ناست ؤ چی له عمر نه خبر شو بهر راووت، عمر یي له جامو نه مظبوط ونیوه او ویي فرمایل: الله! دا عمر څوی د خطاب دی، نه پر دی باندی اسلام ته قوت ورکړی! عمر

رضي الله عنه اسلام قبول کړ او ویې ویل: «لا إله إلا الله و أنك رسول الله» د حضرت عمر رضي الله عنه دشهادت د کلمې په لوستلو سره په دغه کور کې موجودو خلکو په اوچت آواز دالله اکبر چغې کړې حتیٰ چې په جوماتو کې هم خلکو داچغې واورېدې.

له دې وروسته کله چې د حضرت عمر رضي الله عنه د اسلام د راوړلو خبر قریشو ته ورسید، ډېر زیات خفه شو، تر دې چې د حضرت عمر رضي الله عنه د قتل تصمیمونه یې ونیول، د حضرت عمر رضي الله د قتلولو جوړ شوي تصمیمونه د نوموړي د جرئت او میړاني نتیجه وه چې ټول له خاورو سره خاورې او ناکام شول.

عمر رضي الله عنه د امير المؤمنين په حيث:

طبراني د کبیر او العسکري په اوایلو کې د حاتم بن شهاب څخه نقلوي چې په «امير المؤمنين» سره د حضرت عمر رضي الله عنه د شهرت وجه دا وه چې: عمر بن عبدالعزیز د ابابکر بن سلیمان بن ابي حثمه نه پوښتنه وکړه چې د ابو بکر صدیق رضي الله عنه په زمانه کې به په خطونو کې داسې لیکل کیدل «من خليفة رسول الله صلى الله عليه وسلم» یعنې دا خط د رسول الله صلى الله علیه وسلم د خلیفه له طرفه دی او د حضرت عمر د خلافت په اوایلو کې به لیکل کیدل چې «من خليفة -خليفة رسول الله صلى الله عليه وسلم» نو لومړني سړی څوك ؤ چې «من امير المؤمنين» کلمات یې ولیکل؟ ابو بکر بن سلیمان فرمایي چې ماته «شفا» چې یوه مهاجره ښځه وه وویل: یو وخت عمر بن الخطاب رضي الله عنه د عراق والي ته ولیکل چې ماته دوه داسې کسان راولیږه چې زه ترې د عراق د خلکو په باره کې څه معلومات تر لاسه کول غواړم.

د عراق والي دوه کسان چې لبید بن ربیعه او عدي بن حاتم وو؛ ورولیږل. کله چې مدینې ته ورسیدل حضرت عمر رضي الله عنه په جومات کې ناست ؤ. دغه دوه کسانو عمر بن العاص رضي الله عنه ته وویل: چې د امير المؤمنين څخه زمونږ لپاره دملاقات اجازت وغواړه!

عمربن العاص رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه خواته ورغي او دا الفاظ یې وویل: اسلام علیك یا امیر المؤمنین! حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل: څه وجه ده چې دا نوم دې ذهن ته ښه ښکاره شو؟ عمر بن العاص ورته قیصه بیان کړه او ورسره یې دا وویل چې «ته امیر یې او مونږ مؤمنان یو» نو له دې ورځې نه وروسته د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په امير المؤمنين شهرت بیاموند. ځینې روایتونه وایې چې عمر رضي الله عنه مغیره بن شعبه رضي الله عنه په دې نوم مسمیٰ کړی دی. دریم قول چې ابن عساکر د معاویه بن قره څخه نقل کړی دی چې د ابو بکر صدیق رضي الله عنه په وخت کې به «خليفه رسول الله» لیکل کیدل، له دې وروسته کله چې عمر رضي الله عنه خلیفه شو نو «خليفة خليفة رسول الله» لیکل رایج شو نو عمر رضي الله عنه د اصحابو سره مشوره وکړه چې دا کلمات په دې ډول ډیر اوږدیږي. صحابه کرامو ورته وویل: ته زمونږ امیر یې او مونږ مؤمنان یو نو د امير المؤمنين کلمه یې غوره کړه او له دې وروسته عمر رضي الله عنه په امير المؤمنين شهرت پیدا کړ.

(نور بیا)

انجنير احمد شاه احمدزي وويل:

نړيوال دې په افغانستان کې عملي مرستې ته راوړاندې شي.

د سولې د هر خير خواه ځواک سره همکارۍ ته چمتو يو

هماغسې چې محترم لوستونکې معلومات لرې په دې وروستيو وختو کې په کابل کې جنګونه بند شوې دې او ددولت قواوې په دې بريالۍ شوې دې چې مخالفين د کابل نه دومره لرې وتمبوې چې راکټې ګذارونه ئې کابل ته راونه رسيږې اوس چې دغه کار عملاً شوې دې او د کابل په ښار کې ژوند د معمول مطابق ته راګرځيدلې دې ورسره جوخت په کابل کې د بيا رغاونې ترميماتې کارونه هم شروع شوې دې او دولت لګيادې د بيا ابادۍ په مقصد نړيوالې مرستې راجلبوې او په دې لړکې ئې ټول امکانات په کار اچولې دې.

په کابل کې د دعوت د مجلې خبريال ددې د پاره چې حکومت کوم پلانونه تر لاس لاندې نيولې دې او د سولې په دې نوې دور کې په کومو چارومصروف دې د کور جوړولو او ښار جوړولو د وزير او د صدارت مرستيال محترم انجينير احمد شاه احمدزي سره مرکه کړې ده چې په لاندې متن سره وړاندې کيږي: په کابل کې د مجلې خبريال

پوښتنه: اوس چې په کابل کې بشپړ امنيت ټينګ شوې دې او حکومت په خپلو مخالفينو باندې پوره برې حاصل کړې دې د نورڅومره پرمختګ پيش بينې کولې شئ او څه وخت به بنيادي جنګونه بند شي؟

ځواب: زه د دولت او حکومت په حواله په مسئوليت سره دا خبره کولې شم چې مونږ د جنګ طرفدارنه يو او هميشه مو د جنګ په ضد عکس العمل ښودلې دې،همدا اوس چې د طالبانو په نوم کوم ځواك د دولت په مقابل کې په جنګ بوخت دې او د هرې ورځې په تيريدو سره دولت نوې نوې برياليتوبونه راوړې که چيرې طالبان د خبرو او مذاکرې د لارې جوړ جاړې ته چمتو شي په همغه ورځ به جنګ بند شي او نور څه داسې عوامل نشته چې جنګونو ته پکې دوام ورکړشي،د طالبانو څخه غير نور مخالفين هم کولې شي خپل منځې مسائل د اسلامي دولت او حکومت سره د مخامخ خبرو د لارې وڅيړې او د حل يوه لاره راوباسي.

پوښتنه: لکه چې لیدل کیږي په کابل کې د بیا جوړونې ترمیماتي کارونه شروع شوي دي په داسې حال کې چې دولت ددې کار د پاره په کافي اندازه بودجه او رقم نلري د بهرنیو هیوادونو سره په دې رابطه څه تماسونه نیول شوي دي او تر اوسه پورې څومره عملي مرستې راجلب شوي دي؟

ځواب: د بهرنی نړۍ په تیره بیا د اسلامي هیوادونو،گاونډیو او د ملگروملتو د نړیوال سازمان سره د خبرو او تماس نیولو کوششونه جاري دي چې د کابل د بیا ابادولو په کار کې مرستې وکړي. خو متأسفانه چې تر اوسه پورې کوم مشخص هیواد د عملي مرستو کوم اقدام نه دی کړی او صرف د وعدو په کولو سره ئې مونږ په تمه کیښنولي یو.

څوموده مخکې د اروپا د گډ بازار یو هئیت کابل ته راغلی وو چې په هغې کې د دنیا د مختلفو هیوادونو نمایندگان موجود وو.نوموړي هئیت د یو لړ خبرو او سروې نه وروسته د کابل ښار ته د برق او روغتیائي اوبو رسولو په کار کې وعدې وکړې او تاکلې راپورونه ئې د ځانه سره یوړل چې پدې راپورونو کې د هر وزارت جداجدا مشکلات درج کړي شوي وو.

ددې نه علاوه په کابل کې یو شمیر نوري غیر دولتي موسسې او انجوگانې هم شته دی چې ذوی هم په خپل وارسره د اوبو رسولو او مستحقو کسانو سره د اقتصادي مرستو وعدې کړي دي.

دارنگې د سره صلیب موسسې د کابل د روغتونونو سره مرسته کوي او د فرانسې یو څو موسسې شته دی چې خال خال مرستې کوي خو د غټو تولیدي موسسو او پروژو د بیا فعالولو لکه د برق د احیاء پروژه. تراوسه هیڅ هیواد عملي مرستې ته ندی راوړاندې شوي.

د یوې لمړنی سروې له مخې د کابل د برق د بیا تمدید د پاره لږ تر لږه پنځه شپیته ملیونه ډالر پکار دي چې د دغسې مرستو ذمه واري لا کوم هیواد په غاړه نه ده اخستې.

په داسې حال کې چې هر وزارت په خپل خپل چوکاټ کې د مهمو تولیدي پروژو د جوړولو د پاره فهرستونه جوړ کړي دي او دا په کې تشخیص شوي دي چې د بیا جوړولو چاري د کوم ځایه څخه پیل شي،نړیوالو موسسو ته د ضرورت وړمرستې د تر لاسه کولو د پاره هئیتونه او رپوټونه لیږل شوي دي او مونږ دي ته منتظر یو چې څه وخت به مثبت ځواب تر لاسه کوو.

پوښتنه: که چیرې نړیوالې موسسې دې ته حاضرې شي او افغان حکومت ته په کافي اندازه مرستې ورکړي تاسوبه د بیا جوړونې په لړ کې کومو کومو پروژو ته د لومړیتوب حق ورکړئ؟

ځواب: که چیرې نړیوال حاضر شي او په خپلو پخوانیو وعدو وفا وکړي او مونږ ته د دوباره ابادۍ د پاره په کافي اندازه رقم لاس ته راشي نو مونږ به د ټولو نه لمړی د کابل د برق غم وخوړواو وروسته به د هغو پروژو په جوړولو لاس پورې کړوچې په تولیدي او اقتصادي لحاظ مثمرې او گټورې وي.دارنگې په دوهم قدم کې د څښلو د روغتیائي اوبو،د ښوونې او روزنې د تاسیساتو د جوړولو د سرکونو او پلونو د جوړولو او ترمیم چارې د لومړیتوب حق لرې او مونږ پوهیږو چې کار د کومه ځایه شروع کړو.

د مثال په توگه که همدا اوس مونږ ته امکانات په لاس راشي او کابل ته د بریښنا په تمدید ولو لاس پورې کړو نو ایله د راتلونکې ژمي د پاره مونږ په دې بریالي شو چې کابل ښاریانو ته د پخوا
په شان برق ورکړو.

ځینې غیر دولتي اداري چې همدا اوس ئې په مات گوډ فعالیت لاس پوري کړي دی لکه د پاملرنې موسسه چې پروژې ئې معلومې دي یوازې د اوبو د تهیه کولو پروسه ئې مخکې کړې ده او همداسې ورته د خپلو خپلو هیوادونوڅخه هدایت شوي

دی چی مونږ نه غواړو د هغوی د کار په ټاکلی پروګرام کی مداخلت وکړو.

پوښتنه: په دی وروستیو وختو کی دولت اعلان کړی دی چی د دولتی او حکومتی ماشینری د ښه فعالیت د پاره په موجوده کابینه کی نوی نظر وکړئ دغه تجدید او ترمیم د کومی انګیزی له مخی کیږی؟

ځواب: دغه اعلان د دولت د جمهوری ریاست له خوا شویدی او حکومت ته یکی پوره تفصیلات نشته دی خو بیا هم لکه څنګه چی لیدل کیږی د ملګرو ملتود صلحی پروګرام یو پر بل پسی ناکامیږی،هغه وخت چی ښاغلی محمود مستیری ووئیل چی د هر ولایت څخه دوه دوه کسان د نماینده ګانو په حیث راشئ اوس د دوی نه هم لاره ورکه ده چی څه وکړی خو مونږ افغانان مجبور یو، یو داسی ماحول پیدا کړو چی صلحه وربانیدی راشی او دا هم ضرورت دی چی کابینه متحرکه او مسلکی شی .خصوصاً هغه وخت چی د ملګرو ملتونو د صلحی پروګرام ناکام شی او مونږ ته بله لاره نه ده پاتی چی خپل غم باید په خپله وخورو او نورو ته په تمه نه شو.

پوښتنه: ښاغلی محمود مستیری د یو کال هلو ځلو نه وروسته په پای کی اعلان وکړ چی استاد ربانی د دی پروګرام سره همکاری ونکړه ځکه نو باید په نړیواله سطحه تجدید او په انزوا کی پریښودل شی تاسو دغه دړکه څنګه څیړئ؟

ځواب: اول خو مونږ د ښاغلی محمود مستیری نه پوښتنه کوو چی همدا اوس زمونږ سره چا مرسته کړی ده مونږ دا دری کاله په تجدید او انزوا کی یو،په داسی حال کی چی مونږ هیڅ ګناه او خلاف ورزی نه ده کړی دا چی د دوی پروسه په مخ نه ځی دا د دوی خپل نقص دی خلك باید پوه شی چی دولت همیشه د دی پروګرام سره همکاری کړی ده.

ښاغلی محمود مستیری چی د قدرت د انتقال د پاره څومره نیتی اعلان کړی د معقول میکانیزم په جوړولو بریالی نشو خو اوس چی بی ځایه دړکی کوی او دولت ته اخطارونه ورکوی دده په خپل ضعف او ناتوانۍ دلالت کوی .

زمونږ سره هیچا مرسته نه ده کړی او که کړی ئی وی نو مهربانی دی وکړی او راودی ښائی. مونږ په دی انزوا کی عادت شوی یو، بله چاره نلرو او دا به د دوی له طرفه ظلم وی چی زمونږ په حاکمیت ئی کوی .

زمونږ حکومت ټولی دنیا منلی دی او معرفی شوی دی،رسمی دولت او حکومت دی او چی څوك په مونږ بندیزونه لګوی بیا هم مونږ ورسره عدم همکاری نه ده اعلان کړی، ښائی محمود مستیری په دی باندی په غصه شوی وی چی ولی په کابینه کی اصلاحات او ترمیم کوی دا خو زمونږ خپل کار دی په دی کی د هیچا د دخالت حق نشته دی که چیری ښاغلی محمود مستیری ته مو ویلی وی چی ستاد صلحی پروګرام نه منو په هغه صورت کی ئی د شکایت او دړکی حق درلود.

مونږ د خپل ملك د بهبود او د صلحی او امنیت د پاره کولی شو په افغانی خصوصیاتو خپل پروګرامونه جوړ کړو،دا زمونږ خپله داخلی موضوع ده او خارجیانو ته د دی صلاحیت نه ورکوو چی زمونږ په تشکیلاتی مسایلو کی مداخله وکړی.

ښاغلی محمود مستیری ددی په ځای چی د صلحی.ځانګړی پروګرام په مخ بوزی او افغانانوته تسلیت ورکړی او د صلحی اغیزمنی لاری چاری ولټوی د ضرب الاجل په ټاکلو ئی خلك ،دنیاوال او ځان مصروف کړی دی.

ترکومه ځایه چی د افغانستان په اسلامی دولت او حکومت پوری اړه لری نه یوازی د ملګرو ملتو د ځانګړی استاذی د صلحی د پروګرام سره ئی تر دی وخته پوری فعاله همکاری کړی ده او همکاری ته اوس هم تیاری دی بلکی هر ځواك چی د صلحی په خاطر د عمل صحنی ته راځی مونږ ورسره فعالی همکاری ته تیار او اماده یو.

عدل او احسان

الله تعالی د عدل او احسان په هکله په خپل مقدس کتاب کی فرمایی:

«إن الله يأمر بالعدل والإحسان» (سورة النحل-۹۰)

ترجمه: بی له شکه الله تعالی د عدل او احسان حکم ورکوی.

عدل د انصاف او برابرښت په معنی دی د اسلام مقدس دین په عدل او انصاف کولو ډیر زور راوړی او دې لور ته یی خاصه پاملرنه کړی ده. په قرآن پاك کی راغلی دی چی تاسي د کوم قوم سره دښمني په نا انصافي سره ونه کړئ، تاسي انصاف وکړئ. دا تقوی ته ډیره نژدي ده.

عدل او انصاف دومره اهمیت لری چی الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ځانته خصوصي مخاطب کړی او ارشاد یی فرمایلی: تاسي چی کله دخلکو تر منځ فیصلی کوئ نو دعدل او انصاف خیال ساتئ، بی له شکه الله تعالی د انصاف کوونکو سره محبت کوی.

عدل او انصاف دی ته ویل کیږي چی خپل پردی، دوست دښمن، لوی وړوکي، امیر غریب او حاکم او محکوم په نظر کی ونه نیول شي او له هر ډول امتیاز پرته د حق دار په حق کی صحیح او سمه فیصله وکړل شی.

عدل او انصاف یوازی دقاضي او حاکم کار نه دی بلکي هر انسان او هر شخص پخپل چوکاټ او دخپل کار په دایره کی دعدل او انصاف د غوښتني د پوره کولو پابند او مسؤل دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: چي انصاف کوونکي خلك به دقیامت په ورځ الله تعالی ته ډیر نژدی په نوراني منبرونو کینولی شی. (مسلم)

په یو بل حدیث شریف کی نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغو اوه او خوش نصیبو خلکو چي د عرش سیوری به یی په برخه کیږي یادونه کړی ده او فرمایلی یی دي چی په دوی کی به یو عادل امام یعني انصاف کوونکي حکمران وی. په دی ډول یو پلار هم د خپل اولاد تر منځ د انصاف کولو پابند او مسؤل دی. یو صحابي حضرت بشیر رضي الله عنه خپل ورکوټي ځوی نعمان له ځانه سره د حضور صلی الله علیه وسلم مخي ته راوست، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یی وویل: اي رسول الله! تاسي په دی گواه اوسي چی ما دې خپل ځوی نعمان ته یو غلام ورکړی دی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته و فرمایل: ایا ستا له دی ځوی نه پرته نور اولاد شته؟ هغه وویل هو! زما نور اولاد هم شته! نبي کریم صلی الله علیه وسلم تری پوښتنه وکړه چی آیا تا ټولو اولادونو ته یو یو غلام ورکړی دی؟ هغه وویل نه! یوازی دی یو ته مي ورکړی دی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته و فرمایل: دا سراسر ظلم دی او زه د ظلم په خبره گواه نشم جوړیدلي.

همدارنگه خاوند هم د خپلو ښځو په منځ کي د انصاف کولو پابند دی.

خوږ نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي چې هغه شخص چې د خپلو ښځو تر منځ انصاف نه کوی هغه به دقيامت په ورځ پداسي حال کي راوستل شی چي يو اړخ به يی ورووست او ګنده شوی وی.

يو وخت د بنو مخزوم دقبيلی يوی ښځی غلا کړی وه، نبي کريم صلی الله علیه وسلم د هغی د لاس د قطع کولو حکم صادر کړ، ځينو خلکو غوښتل چی دی ښځی ته د لاس د پری کولو سزا معاف شی . دی وخت کي نبي کريم صلی الله علیه وسلم و- فرمايل:

په الله تعالی می دي قسم وی! که چيری زما لور فاطمه (رضي الله عنها) هم غلا وکړی نو د هغي نه به هم لاس پری کړی شی.

احسان:

احسان نيکي، ښه کار او يو کار په ښه طريقه کولو ته وايي. الله تعالی قرآن پاك کی فرمايي:

«وأحسنوا إن الله يحب المحسنين» (البقرة-١٩٥)

ترجمه: نيکي وکړئ، د نيکي کوونکو سره د الله تعالی محبت وی.

په حديث جبريل کی دی چي هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مختلفي پوښتني کولی او نبي کريم صلی الله علیه وسلم ورته ځوابونه ورکول، ددی پوښتنو له جملی څخه يوه دا وه چی احسان څه ته وايی؟ او د احسان مفهوم څه شی دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: د احسان مفهوم دادي چی د الله تعالی عبادت په داسی ډول وکړی لکه الله تعالی چی پخپله وينئ او که چيری دا مرتبه په عبادت کی حاصل نه وی نو لږ تر لږه داسی خو تصور کړل شي چی ما خو الله تعالی وينی او زه د هغه په نګراني کی يم.

په قرآن پاك کي په احسان (نيکيو) کولو دومره تاکيد شوی دی چی الله تعالی د خپل عبادت د حکم سره جوخت د والدينو (مور پلار) سره احسان يعني د حسن سلوك حکم ورکړی دی. همدا رنګه په قرآن مجيد کی د والدينو، ګاونډيانو او خپلوانو سره د احسان کولو په باب څو واره حکم راغلي.

په اسلام کی د احسان په باب تر دی اندازي پوری تاکيد شوي دی چی حتی حيوانات هم د احسان مستحق دی له اسلام څخه وړاندی به عربو خلکو له ژوندو حيواناتو څخه د خوړلو لپاره غوښې پری کولي، چی په دی ډول به آخر هغه حيوان ذبحه شو، له ژوندو حيواناتو څخه به يي په دي ډول خپل ضرورتونه پوره کول. څرنګه چي دا ډول عمل له حيواناتو سره ظلم ؤ نو ددی ظلم د مخنيوی لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل:

د ژوندو حيواناتو له جسم څخه چي کومه غوښه پری کړل شی هغه مرداره او حرامه ده. همدارنګه خوږ نبی کريم صلی الله علیه وسلم يو حيوان د بل حيوان لپاره ساتل او حيوانات په پخپل منځ کی په جنګ اچول په سختی سره منع کړی دی.

په يو بل حديث شريف کی راغلي دی:

بي له شکه الله تعالی تاسي ته په هر څيز د احسان کولو حکم کړی دی، کله که تاسو ته د يو څه په قتلو لو (وژلو) شرعي ضرورت پيښ شی، تاسي يی په ښه طريقه قتل کړئ يعني په يو وار يی قتل کړئ بلا ضرورت او بلا وجي يی مه عذابوئ او که کوم څاروی حلالوی هغه هم په ښه طريقه سره حلال کړئ چاړه ښه تيره کړئ او حلالکی ته راحت ورکړئ.

د احسان بدله:

که يو مسلمان له بل مسلمان سره د احسان او نيکي مظاهره وکړی، هغه بل مسلمان ته پکار دی چی هغه هم د نيکي کوونکي مسلمان سره له حسن سلوك څخه کار واخلي. قرآن پاك په دی باب فرمايي:

«هل جزاء الإحسان إلاالإحسان» (سورة الرحمان-٦٠)

ترجمه: آيا د نيکي جزاء بيله نيکي نه بل څه کيدای شی؟

زمونږ خوږ نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره به چی کوم شخص د احسان معامله وکړه، خوږ نبي کريم صلی الله علیه وسلم به هم د هغه د احسان په مقابل کی بهتره معامله فرمايله.

کابل ښار په سلوکي شپیته ویجاړ شوي دي.

ددې ښار د بیا رغاونې د پاره لږ تر لږه د دوه ملیارده ډالره رقم ته ضرورت دی.

فضل کریم «ایماق»

د کابل ښکلې او سمسور ښار چې د اسیا په جنوب کې د اب وهوا او ښکلا له نظره د سویس سره انډول کیده دا وخت نه یوازې په یوې کنډوالې بدل شوي او اکثره شخصي،تجارتي اودولتي ودانۍ ئې جنگونو د خاورو سره برابرې کړې دي بلکه ددې ښار د برېښنا،اوبو رسولو او تیلفون شبکې هم ویجاړې شوې دي چې بیا جوړول ئې د دولتي د عادي او انکشافي بودیجې له توانه وتلې خبره ده.
د دعوت د مجلې خبریال په دې وروستو وختونو کې د کابل د ښار د اوسیدونکو د اقتصادي او اجتماعي ستونزو او په دې ښار کې د ساختماني فعالیتونو د څرنگوالي په باره کې د معلوماتو د تر لاسه کولو په منظور د کابل ښاروال ښاغلي فضل کریم ایماق سره یوه مرکه کړې ده چې د لوستونکو پام ورته راگرځوو.

په کابل کې د مجلې خبریال

پوښتنه: د کابل ښار د جگړو په دوران کې څومره تودې سړې گاللې دي او دا وخت پکې د خلکو د اقتصادي او اجتماعي ژوندانه حالت څنگه ارزیابي کوئ؟

ځواب: جنگونه چې د یوې تباه کوونکې پدیدې په حیث د غم او مصیبت نه پرته بل پیغام نلري او د خلکو نه د ژوند کولو صلاحیت تروړي د کابل د ښار په سلو کې(۹۹) کسان د دې جنگونو څخه په یو شکل نه په یو شکل خساره مند شوي او د پخوا په شان عادي ژوند ئې ورته گران کړي دي.

د بې معني او بې مفهومه جنگونو له امله د کابل د ښار د دوه ملیونه وگړوڅخه سم نیمائي خلك د کابل نه د هیواد او هغه چې د ځینو اقتصادي مشکلاتو او یا کورنیو نورو معاذیرو او ملاحظاتو په اساس پاتې شوي دي د زیاتو مشکلاتو په گاللو او تلفاتو په ورکولو سره په ویر او ماتم کې دي

بیا هم خپل مات گوډ ژوند او روزگار ته دوام ورکوي.په تیرو دری کلونو کې چې د کابل نه د جنگ کربلا جوړه شوې وه کابل ښاریان چې اکثره د معاشونو او ماموریتونو له لارې خپل ژوند تامینوي په خپل وخت ورته معاشونه او کوپوني مواد نه دي ورکړې شوي او نرخونه هم د لوړوالي نهائي عروج ته رسیدلي وو، برسیره په اقتصادي ستونزو کابل ښاریانو د توپونو او راکټونو په باران کې د مرگ

او ژوند ترمینځ وخت تیر کړي دي. ان تردی پوري چي د اوړو د یوي بوری قیمت ۱۲۰زره افغاني د یو ګیلن ډیزلو لس زره او د یو ګیلن پطرولو بیه دولس زره افغانیو ته رسیدلي وه.

خو اوس چي د طالبانو د تحولاتو له امله د کابل اقتصادي کلابندي ماته شوي ده او کابل ته ښه پریمانه خوراکي او ضروري شیان رسیدلي دي قیمتونه هم په سلو کي څلویښت ټیټ شوي دي او د کابل ښاریانو د یو نوي ماحول احساس کړي دي .

پوښتنه: اوس چي کابل ته په کافي اندازه خوراکي مواد رارسیدلي دي داسي ویل کیږي چي دحکومت له خوا خریداري کیږي او جلابانو هم په زیرمه کولو پیل کړي دي. د کابل ښاروالي تدابیر څه دي؟

ځواب: اوس چي د ضرورت نه زیات غذائي مواد کابل ته رارسیدلي دي او د لارو د پاټکونو په لري کولو سره اکثره سوداګر او د انتقالاتو پروسه چټکه کړي ده کابل ښاروالي هم د دي د پاره چي د موادو د احتکاداو د قیمتونو د لوړیدو مخه ونیسي د قیمتونو، د کنټرول اداره د پخوا نه زیاته فعاله کړي شوي ده او د کابل د ښار په مختلفو نواحیو کي د نظارت بیلا بیلي ډلي توظیف کړي شوي دي.اوس نه یوازي د بهر څخه په منظمه توګه غذائي مواد بي تکلیفه رارسیږي بلکه د موادو ټولي هغه ذخیري چي د طالبانو د یرغل څخه مخکي په میدان ښار او چاراسیاب کي متراکم شوي ووټول کابل ښار ته عرضه کړي شوي دي.

پوښتنه: تردي وخته پوري کابل ښار ته د جنګ ټاراکونو څومره خساره رسولي ده او د بیاودانولو د پاره څومره رقم پکار دي؟

ځواب: هماغسي چي مخکي هم وویل شول چي د جنګونو په وجه د ښار سم نیمائي خلك وتلي دي کورونه ئي وران شوي دي او ځاني تلفات ورته رسیدلي همدغسي کابل ښار په فزیکي لحاظ په سلو کي شپیته ویجاړ شوي دي او هغه وداني چي پاتي دي بیا هم د توپ او راکټ د ګذار نه محفوظ نه دی پاتي شوي.خو په فني شکل سره بهٔ دا ډیره سخته وي چي د کابل د ښار د خرابي دقیق براورد وشي خو د یو تخمین له مخي لږ تر لږه په مقدماتي توګه دوه ملیارده ډالره پکار دي تر څو د ښار په بیا رغاوني کي په کار واچول شي.

پوښتنه: که چیري حالات د معمول مطابق ته راوګرځي او جنګونه بند شي داسي هیوادونه او غیر دولتي موسسي شته دي چي د کابل په بیا جوړولو کي مرسته وکړي؟

ځواب: د اسلامي انقلاب د بري د همغه لومړي ورځي څخه دوستو اسلامي ملکونو او د ملګروملتو نړیوالي موسسي اعلانونه وکړل چي د افغانستان په بیا رغاونه کي برخه اخلي خو چي ورسره جوخت جنګونه شروع شول د نړیوالو مرستو ټولي وعدي په افغانستان کي د امن د ټینګیدو تر وخته ملتوي شوي. که چیري جنګونه بند شي او سراسري سوله ژمونږ په هیواد کي ټینګه شي زه باورلرم چي هیوادونه او نړیوالي موسسي به د ټولو نه اول د کابل د ښار په بیا ابادي کي فعاله برخه واخلي، دجنګونو په دوران کي هم زیاتو نړیوالو موسسو د کابل د ښاریانو سره د بشري مرستو په څنګ کی په ساختماني چارو کي هم د کابل ښاروالي سره مرسته کړي ده چي زه ورنه مننه کوم او د راتلونکي د پاره ئي د زیاتو مرستو او همکاریو هیله من یم.

فقید جمیل الرحمن

عمر پاڅون

جرمني

قـــربـان شـــوي لـه وطـــن او لـه اسلامـــه
ای فقیدجمیل الرحمانه ای فقید جمیل الرحمانه
د کـنړ پـه سـردرو کی
په کوڅو او په حجروکی
پـه جومات اوپه دیرو کی
د دعــوت جـنډه دی پــورتـه تر اسـمانـه
ای فقیدجمیل الرحمانه ای فقیدجمیل الرحمانه
تاشروع چي کړو جهاد
دښمــن دي کړو برباد
کـنـړ دي کــړو آزاد
د اسلامــي امـارت تـــه شــوی قـهرمـانـه
ای فقیدجمیل الرحمانه اي فقیدجمیل الرحمانه
تـا لـرل لـوی ارمـانونه
خپل وطـن تـه پلانوتـه
پاك اسلام ته خدمتونه
ستا یو عـزم ؤ پـــه زړه کی له پخـوا نـه
ای فقیدجمیل الرحمانه ای فقیدجمیل الرحمانه
دمـظلومـو خـدمـتگار وي
ته صادقه ډیر هوښیار وي
یو زیرك سیاست مدار وي
دښـمن دی ویـرولی ؤ پـــه بــرم او میړانه
ای فقیدجمیل الرحمانه ای فقیدجمیل الرحمانه

غوره ویناوي

زباړه: ابو ولید

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمایلي دي:

۱- ظالمان معاف کول په مظلومانو ظلم دی.

۲- لږ ویل حکمت دی،لږ خوراك صحت دی او لږ خوب عبادت دی.

۳-د دنیا عزت په مال کی دی او د آخرت عزت په اعمالو دی.

٤-کله چی حلال او حرام جمه شي نو د حرامو وزن زیات شي ولو که حرام یوه ذره هم وي.

٥-چاچي ستا عیب درپه گوته کړ هغه دی دوست دی او چا چي دی چاپلوسي کوله هغه دی دشمن دی.(مخزن اخلاق)

حضرت علي رضی الله عنه فرمایلي دي:

۱-د فاسق بد ویل غیبت ندی.

۲-معافي او گذشت ښه انتقام دی.

۳-منافق هیڅکله د چا دوست کیدای نه شي.

٤-د جرم اقرار د مجرم لپاره ښه واسطه ده .

٥-دری څیزونه د انسان د بربادۍ سبب گرځي.قرض،حسد او غرور.

دری څیزونه په احتیاط اوچتوئ.

قلم

قدم

او

قسم.

حکایت:واٸي چی یوه ورځ امام شافعی رحمه الله د یو خلیفه دربار ته تشریف یوړ،په مجلس کی یو مچ څو ځل په خلیفه حملی وکړی او خلیفه ئي ډیر زیات تنگ کړ، بلآخره خلیفه وویل:د دی مچ په پیدایښت کی به د الله تعالی څه حکمت وۍ او دا ئی ولی پیدا کړی؟
امام شافعی رحمه الله ځواب ورکړ:په دی کی د الله تعالی دا حکمت دی چی زورور ته د خپل زور د بی حسۍ او ناچارۍ احساس وشي.

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ژوند ته یوه لنده کتنه

د محمدشیرین «اسد» ژباړه

حضرت أم سلمه (رضي الله عنها)

د حضرت ام سلمه(رضی الله عنها) خپل نوم « هند» او لقب ئی ام سلمه ؤ،پلار ئی د مخزوم قبیلی یو ډیر معزز او قابل احترام سردار ؤ او په عربو کی ئی د ډیر سخاوت په وجه د سخی په نوم شهرت درلود، د تجارت په سفر چی به روان شو،د قافلی د ټولو ملگرو د قیام او طعام اخراجات به د ده له خوا پوره کیدل اوهمدا وجه وه چی ټولو به ورته زاد راه (دمسافر توخه) خطاب کولو.

د حضرت ام سلمه رضی الله عنها څښتن عبدالله عبدالاسد نومیده او دا د هغو لسو صحابه ؤ کرامو له جملی څخه شمیرل کیږی چاچی له ټولو لمړی د اسلام مبّین دین ته لبیك ویلی ؤ، له دی نه وړاندی صرف ابوبکر صدیق او څو نورو صحابه کرامو(رضی الله عنهما) اسلام قبول کړی ؤاو حضرت ام سلمه رضی الله عنها هم د خپل څښتن سره یو ځای د اسلام په قبولولو مشرفه شوه او دا هم د هغو صحابیاتو له جملی څخه شمیرل کیږی چی د نورو نه ئی د اسلام په قبولولو کی سبقت درلود.

کله چی د قریشو مشرکینو ته خبر ورسید چی ام سلمه او د هغی څښتن عبدالله مسلمانان شول نو هغوی ئی گرفتار کړل او ډیری سختی او درد-ناکی سزاگانی ئی ورله ورکړی،لیکن دمشرکینو دغه ډول سزاگانو د هغو په ارادو کی هیڅ ډول بدلون پیدا نه کړی شو،بلکه د هغو ایمانونه ئی نور هم مضبوط کړل.کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له دی نه خبر شو چی د هغه د صحابه ؤ سره د قریشو له خوا زور زیاتی او ظلمونه کیږی،نو هغوی ته ئی د حبشی په لور د هجرت کولو حکم ورکړ، په دغو مهاجرو کی ام سلمه رضی الله عنها او دهغی څښتن هم شامل وو.

حضرت ام سلمه رضی الله عنها خپل معززخاندان او عالیشان کور د الله تعالی د رضا د حاصلولو په منظور پریښود او د هغه منزل په لور روان شول چی الله تعالی ورته د هغی هدایت کړی ؤ.

سره له دی چی د حبشی بادشاه نجاشی به د حضرت ام سلمه رضی الله عنها او د هغی د څښتن زیات عزت کولو او د هغه پوره حمایت ورسره ؤ خو بیا هم د هغوی په زړونو کی د حضور صلی الله علیه وسلم د لیدلو تمنا وه او همیشه په دی فکر کی وو چی هغه وخت به کله راشی چی مونږ بیا د حضور صلی الله علیه وسلم زیارت وکړو.

بل خوا حبشی ته به دا آوازی په مسلسل ډول رارسیدلی چی په مکه معظمه کی د مسلمانانو شمیره ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده، حضرت حمزه او حضرت عمربن خطاب رضی الله عنهم د اسلام په مبارك -دین

مشرف شول او د دوی په راتگ مسلمانان نور هم مضبوط شول او اوس قریش په مسلمانانو هیڅ ډول زور زیاتی نه شی کولی.د دی خبرو په اوریدلو سره ځنی مهاجرین مکی سعظمی ته واپس شول چی په دوی کی ام سلمه او د هغی څښتن هم شامل ؤ، لیکن دغو مهاجروته ډیره زر دا پته ولگیده چی دوی مکی ته په راتگ کی د عجلت نه کار اخستی او کوم خبرونه چی به دوی ته رارسیدل په هغوی کی ډیره مبالغه وه . حقیقت دا ؤ چی کله حضرت حمزه او حضرت عمر رضی الله عنهم مسلمانان شول نو قریشو په مسلمانانو زور زیاتی او ظلمونه نور هم زیات کړل، چی د دی سره د مسلمانانو په مشکلاتو کی :.ره هم اضافه وشوه .

مشرکینو په مکه مکرمه کی په وسیدونکو مسلمانانو باندی داسی ظلمونه شروع کړل چی ساری ئی نه لیدل کیده دا حالات چی کله حضور سلی الله علیه وسلم ولیدل نو سلمانانو ته ئی د مدینی په طرف د هجرت کولو هدایت وکړ او د مهاجرینو په لومړی قافله کی ام سلمه له خپل څښتن سره شمولیت وکړ،لیکن دا ځل د هغوی وتل د مکی نه دومره اسانه نه وو بلکه دا ځل هغوی له انتهائی سختبو مشکلاتو سره مخ شول.د دی مشکلاتو قصه د حضرت ام سلمه رضی الله عنها له خولی تاسو ته بیانوؤ:

حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی: هغه وخت چی مونږ د مدینی په لور د هجرت کولو عزم وکړ نو حضرت ابو سلمه رضی الله عنه زه په یو اوښ سپره کړم او زما ماشومه لور «سلمه» ئی ما له غیږ کی راکړه او پخپله ئی د اوښ جلب ونیولو او د مدینی په لور روان شو،مونږ لا دمکی معظمی له حدودو نه وتلی نه وو چی زمونږ د قبیلی(بنومخزوم) څو تنو کسانو مونږ ولیدلو او زمونږ مخه ئی ونیوله، او ابوسلمه ته ئی وویل:

مونږ هیڅکله د دی حق تاته نه شو درکولی چی ته دی زمونږ د قبیلی تور سری بغیر زمونږ له اجازت نه بل ملك ته بوځی.بیا ئی په زور زه له خپل څښتن نه راستنه کړم، کله چی زما د څښتن د قبیلی(بنواسد) کسانو دا منظر ولیده نو هغوی په ضد شول او ورته ئی وویل:

په الله مو دی قسم وی چی د دی ښځی سره چی کوم ماشوم دی دا به مونږ تاسو ته درنه کړو،ځکه ماشوم د پلار حق وی او د ده پلار زمونږ د قبیلی سره تعلق لری.

حضرت ام سلمه رضی الله عنها وائی دغه وخت زما د پاره ډیر ناقابل برداشت وخت ؤ چی څښتن می مدینی ته روان شو، ماشوم می د بنواسد د قبیلی کسانو له ځان سره بوتلو او زه د مخزوم قبیلی کسانو مکی ته راستنه کړم.

حضرت ام سلمه رضی الله عنها وائی د جدائی دغه شپی ورځی په ما ډیری گرانی تیریدلی،زه به هر سهر هغه ځای ته چیری چی زمونږ جدائی پکی شوی وه ورتلم او ټوله ورځ به می په ژړا تیره کړه او ماښام به کور ته راواپس شوم.د جدائی دغه شپی ورځی تقریباً یو کال تیری شوی، یوه ورځ زه هلته ناسته وم او ژړل می چی زما د تره ځوی زما دا حالت ولیده او زما په حالت ئی رحم راغی، هغه لاړ او د بنو مخزوم قبیلی مشرانو ته ئی وویل: آخر تاسو دغه مظلومه ښځه ولی ازاروئ؟ تاسو ورشئ د هغی حالت وگورئ چی د خپل څښتن او وړوکی ماشوم بچی په جدائی کی د هغی حالت څنگه دی؟ستاسو پدی عمل به آخر تاسو ته څه په لاس درشی؟

په دې خبرو سره د بنو مخزوم د قبیلې د مشرانو زړونه نرم شول او ما ته ئې وویل چې ته کولی شې چې مکې ته ولاړه شې. ماورته ځواب ورکړ چې دا څنګه کیداشي چې زه دې مکې ته لاړه شم او زما ماشوم دې په مدینه کې د بنواسد د قبیلې سره پاتې شي؟بیا هغوی لاړل او د بنواسد د قبیلې سره ئې خبرې وکړې او زما ماشوم ئې ماله راوست.

ما فکر وکړ چې اوس له دې ځایه خپې ویستل پکار دي، ځکه هسې نه چې د دوی په ارادو کې بیا څه بدلون رانشي.خپل ماشوم مې راواخست او اوښ ته سپره شوم او د مکې په لور یواځې روانه شوم.

کله چې «تنعیم» نومې کلي ته ورسیدم(داځای د مکې نه تقریباً پنځه کیلومتره لرې دی)نو هلته مې د طلحه رضی الله عنه سره ملاقات وشو، هغه راته غږ وکړ: ای د «زادی راه لوری» چیرته روانه ئې؟ ما ورته ځواب ورکړ چې خپل څښتن له مدینې ته ځم. هغه وویل: آیا پدې سفر کې ستاسره څوك ملګری شته ؟ ما ځواب ورکړ په الله مې دې قسم وي بغیر له الله تعالی نه راسره بل هیڅ ملګری نشته. هغه وویل:په الله مې دې قسم وي چې اوس به دې زه پخپله مکې ته ورسوم. بیائې د اوښ جلب ونیوه او مخکې روان شو.

حضرت ام سلمه رضی الله عنها وائي په الله مې دې قسم وي چې ما په عربو کې داسې نیك او شریف انسان نه ؤ لیدلی.کله چې به مونږ له څه سفر وروسته دمه کوله نو طلحه رضی الله عنه به اوښ په ګونډو کړ او پخپله به لیرې لاړ، چې زه به له اوښ نه راښکته شوم نو هغه به د اوس موږه له اوښ نه ښکته کړه او اوښ به ئې یوې اونې ته وتاړه او پخپله به چیرې آرام کولو له لیرې لاړ.کله چې به د روانیدلو وخت شو نو اوښ به ئې تیار کړ.

زما څنګ ته به ئې راوست او بیا به روان شو. هره ورځ به ئې زما سره دغه ډول نیك سلوك کولو تر څو مونږ مدینې ته ورسیدو.

کله چې مونږ د بنو عمرو بن عوف کلي ته ورسیدو نو طلحه رضی الله عنه وویل: ستا څښتن پدې کلي کې اوسیږي او بیا ئې ماته لاره سمه کړه او پخپله مکې ته واپس شو.

پدغه ډول دغه منتشره کورنۍ له یوې اوږدې جدائي وروسته یوځای شول او د مینې او محبت ژوند ئې تیراوه.

څه موده په منځ کې نه وه تیره شوې چې د بدر غزا شروع شوه او په دې کې ابو سلمه رضی الله عنه له نورو مسلمانانو سره واضح فتوحات لاس ته راوړل .وروسته له دې نه ئې د احد په غزا کې هم برخه واخیسته،پدې آزمایش کې هم الله تعالی ابو سلمه رضی الله عنه کامیاب کړ،لیکن پدغه معرکه کې هغه سخت ټپي شو.له علاج سره خو هغه پظاهره ښه شو لیکن څو موده وروسته دغه زخم بیا تازه شو او د ابوسلمه رضی الله عنه حالات ورسره خراب شول.

حضرت ابو سلمه رضی الله عنه د ناروغتیا په حالت کې ام سلمه رضی الله عنها ته ویل:ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دي چې هغه وفرمایل: څوك چې د مصیبت په وخت کې له صبر نه کار واخلي او دا دعا هم ووائي: الهی! پدې مصیبت کې زه ستا له پاك ذات نه اجر او ثواب غواړم.الهی! ما له د.دې نعم-البدل راکړې!

نو الله تعالی ئې دعا قبولوی او بدله ئې ورکوی.

حضرت ابوسلمه رضی الله عنه څه موده په دغه مرض پروت ؤ، یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه

دپوښتنې لپاره د هغه کور ته تشریف راوړ، د څه ساعت ناسبتې نه وروسته کله چې واپس کیده لا دروازې ته نه ؤ رسیدلې چې ابو سلمه د دې فانی دنیا څخه رحلت وکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم راواپس شو او پخپل لاس ئې د هغه سترګې ورپټې کړې او دا دعا ئې وکړه: الهی!ابوسلمه وبخښې او د خپل نیکو بندګانو په څنګ ئې عالی مقام ورپه برخه کړې او د هغه کورنۍ ته صبرجمیل نصیب کړې او دوی ته دده نعم البدل عطا وفرمائې.

الهی!دی او مونږ اوبخښې او د ده قبر پراخه او منور کړې.پدغه وخت کې ام سلمه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه دعا ورياد شوه چې ابوسلمه بیان کړې وه.فوراً رب العلمین ته لاس په دعا شوه.

الهی! زه پدې مصیبت کې ستا له پاك ذات نه اجر او ثواب غواړم.خو د نعم البدل په ویلوماده نه وه. چې الهی ما له ئې نعم البدل راکړه،ځکه فکر ئې کولو چې د ده نعم البدل څوك کیدای شی؟ په هر صورت دغه جمله ئې هم پوره کړه .

ام سلمه رضی الله عنها ته پدغه مصیبت رسیدو د مسلمانانو په زړونو کې یوه جذبه پیدا شوه او د همدې جذبې په بنیاد ئې هغه د عربو د کونډې په نوم یاده کړه.

د ابو سلمه د شهادت نه وروسته د هغه په کورکې د څو وړو ماشومانو نه علاوه هیڅوك داسې موجود نه ؤ چې د هغوی کفالت وکړي، همدا وجه وه چې مهاجرينو او انصارو به د ام سلمه رضی الله عنها او د هغې د بچو سره زیاته همدردی کوله.

د عدت د ورځو له تیریدو نه وروسته اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغې ته د نکاح پیغام واستولو تر څو هغې ته یو مکمل تحفظ حاصل شی،لیکن هغې انکار وکړ،وروسته حضرت عمربن خطاب رضی الله عنه ترې د نکاح خواهش وکړ، هغه ئې هم مسترد کړ.

څو ورځې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې د نکاح خواهش وکړ تر څو دغه یتیمانو ته مکمل تحفظ حاصل شی.

حضرت ام سلمه رضی الله عنها عرض وکړ! یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دري معروضات لرم.اول دا چې زه یوه غصیله(قهرژنه)ښځه یم،داسې نه چې زما له خولې نه څه بده خبره بهر شی او ته زمانه ناراضه شې او زه د الله تعالی په عذاب کې گرفتاره شم .

دوهمه دا چې زه د پاخه عمر ښځه یم او دریمه دا چې زه عیالداره یم او کوچنی کوچنی بچیان می دی.دا خبری چې رسول الله صلی الله علیه وسلم واوریدلې نو وئې فرمایل: تر کومه ځایه چې ستا د غصې خبره ده نو زه به الله تعالی نه دعا وغواړم انشاءالله چې ستا دغه عذر به لرې شی.

ستا د عمر په باره کې باید وایم چې زه هم د پاخه عمر یم، پاتې شوه ستا د عیالدارۍ خبره نو زما مقصد هم همدا دی چې د دوی ذمه واری په خپل سر واخلم تر څو ستا دغه پریشانی رفع شی .

په دې ډول د حضرت ام سلمه رضی الله عنها دعا د رب العزت په درګاه کې قبوله شوه اوهغې ته ئې د ابو سلمه رضی الله عنه نعم البدل عطا کړ.

پدغه ډول د بنو مخزوم د قبیلې دغه هنده نومې ښځه د ام سلمه نه د ام المومنين په عظیم نوم مشرفه شوه .

الله رب العزت دې د حضرت ام سلمه رضی الله عنها څیره په جنت کې روښانه کړي،الله تعالی دې د هغې نه راضی او هغه دې د الله نه راضی وی. امین

دشکري یا ذیابیتیس ناروغي

(Diabetes)

لعل محمد «افسوس»

د شکری یاشوگر ناروغي ته په طبي اصطلاح کی ذیابیتیس وایی، په یونانی ژبه کی دی ناروغي ته (Siphon) وایی چی د (ډیری تندي او ډیر ادرار) په معنی دی.

د سائنس د طبی څیړنو څخه دا معلومه شوی ده چي د شکری ناروغي په ځینو خلکو کي د بدن د پانقراس د غدی د صحیح کار د نه کولو له امله منځته راځي یعنی د پانقراس د غدی څخه افراز شوي هارمون انسولین (Insulin) چي هغه د انسان په بدن کی د گلوکوز (Glocose) ماده کنټرولوی یعنی گلوکوز د انسولین په واسطه هضمیږی او په بدن کی د انسولین پواسطه له کموالی او زیاتوالی څخه په یو مقدار کی ساتل کیږی. یا دا هارمون څومره چی بدن ورته اړتیا لری، په پانقراس کی نه تولیدیږي او یا صحیح استعمال نشی کولی، صحیح استعمال پدی مانا چي گلوکوز د انسولین پواسطه له وینی څخه د بدن حجراتو ته داخلیږی چي یوه برخه یی د روان فعالیت په وجه مصرفیږی او پاتی برخه یی د(Glycogen) په نوم په عضلاتو او ځیگر (ینې) کی ذخیره کیږی او وروسته بیا د ضرورت په وخت کی په سونگ رسیږی. په ځینو خلکو کی بیا دا ناروغي موروثی شکل لری، عموماً هغه خلك چي زیات ښتمن او زیات چاغوالی لری زیاتره ددی ناروغي ښکار کیږی له دی سر بیره روحي فشار او زیاته ناداری هم ددی ناروغي یو عامل دی.

د انسولین هورمون د انسان د ورځني ژوند لپاره انرژی له شکری (خوږو) څخه لاس ته راوړی او همدا رنگه په وینه کی د گلوکوز ماده متوازنه ساتي. دیو روغ انسان په وینه کی د گلوکوز مقدار له (۷۰) څخه تر (۱٤۰) ملی گرامه پوری اندازه شوی دی.

که له (۷۰) ملی گرامه څخه په وینه کی د گلوکوز مقدار کم شی د (Hypoglyceamia) په نوم ناروغي منځته راوړی او که له (۱٤۰) ملی گرامو څخه په وینه کی

د گلوکوز گراف اوچت شی د (Diabetes) ناروغي منځته راوړی. تر هغه وخته پوری د انسان په بدن کی د شکری د ناروغي نښی او علامي نشي څرګندیدی، تر څو د ګلوکوز مقدار په وینه کی (۲۵۰) ملی ګرامو ته نه وی رسیدلي.

د یو نورمال انسان په بدن کی چی خواړه یی نه وی خوړلی او یا روژه وی د ګلو کوز اندازه له (۹۰) څخه تر (۱۱۰) ملی ګرامو او د حاملګۍ په وخت کی له (۷۰) څخه تر (۹۰) ملی ګرامو پوری اټکل شویده او له خوړو څخه دوه ساعته وروسته له (۱۳۰) څخه تر (۱۵۰) ملی ګرامو او د حاملګۍ په وخت کی له (۱۲۰) څخه تر (۱۳۰) ملی ګرامو پوری اټکل شوی ده.

د شکری د ناروغ عمر د نورو عامو خلکو په نسبت ٪۲۵ فیصده کم وی د ځینو احصایو له مخي د نړۍ هر (۸۰) اتیام انسان په دی ناروغۍ اخته دي.

اعراض او علایم:

۱- د شکری ناروغ د تبول (تشو متیازو) زیات احساس کوی او زیاته لوږه او تنده لری.

۲- اکثره وختونه د پوستکی او سینی په امراضو اخته کیږی، د ناروغۍ د زیاتوالی په وخت کی تنفسی تکلیف لري.

۳- د سترګو نظر یی کمزوری کیږی، که عینکی استعمالوی نمبر یی زر زر بدلون کوی.

٤- د بدن وزن له لاسه ورکوي، ستړیا او کمزوری محسوسوی او د عضلاتو او بندونو دردونه لری.

٥- د غاښونو، وریو او نوکونو تکلیف لری.

٦- که کله یی د بدن کومه برخه ټپی شی، زر نه روغیږی.

۷- او همدا رنګه د هضمی جهاز یو لړ تکالیف د شکری د ناروغۍ نښی نښاني دی.

دشکری ناروغي په ځنګ کی یو لړ اختلاطات(Compliction) هم رامنځته کوی لکه د سترګو ګل (Cataract) د وینی د رګونو سختوالي Arthriosclerosis، د اعصابو کمزوری (Neuropathy) او همدا رنګه د بولی سستم او پوستکی یو ډول التهابات او داسی نور.

ددی ناروغۍ تشخیص د پورته ذکر شو اعراضو او علایمو د کتنی سره سره د وینی او ادرار د لابراتواری معاینااتو په تر سره کولو کیدی شی.

ددی ناروغۍ په اړوند ځینی احتیاطي تدابیر:

د شکری په ناروغۍ مبتلا ناروغ له دی ناروغۍ څخه مکمل نجات نشی حاصلولی مګر ناروغ کولی شی چی له دی هدایاتو څخه ځه ناځه استفاده وکړی او خپل ژوند د شکری د تکالیفو څخه و ژغوری:

۱- د حیواني غوړو لکه وازده، کوچ او پنیر په خوراک کی باید له ډیر اعتدال څخه کار واخیستل شی.

۲- همیشه باید بدنی تمرینات او حرکات اجراء کړل شی او د ورځي پنځه شپږ کیلو متره پلی (پیاده) و-ګرځي، تر څو په بدن کی ذخیره شوی ګلایکوجن مصرف شي.

۳- هغه خلك چي موروثي شوګر ولري، په خوراك څښناك کي له ډیر احتیاط څخه کار واخلی، د خوږو شیانو دخوراك یعني هغه خواړه چي زیات کاربوهایدریټ ولری ونه خوړل شی.

٤- هر شپږ میاشتی وروسته د ګلوکوز مقدار په وینه او ادرار کی

معلوم کړل شي.

٥- مسن او د زیات وزن لرونکی اشخاص باید کوښښ وکړی چې خپل وزن کم کړی.

٦- د نشه یی موادو او خصوصاً شرابو څخه پرهیز وکړی.

٧- هغه ښځې چې پر لپسي او لادونه زیږوی، دشکری معایناتو ته خاصه پاملرنه وکړی.

٨- د ذهني پریشانیو څخه د بچ کیدو د لارو چارو لټولو کوښښ وکړی.

٩- که ناروغ د بدن په کومه برخه زخم، ټوخي، کانګی، اسهال او یا داسي نوری ناروغي ولری؛ فوراً باید له یو متخصص معالج سره مشوره وکړی او په خپل سر کومه دوا استعمال نه کړی.

١٠- حامله ښځې باید همیشه د یو متخصص ډاکتر تر څارني لاندی وی.

١١- دشکری ناروغ که د زړه کومه ناروغي ولری او یایی د وینی فشار زیات وی، فوری باید تر علاج لاندی ونیول شی.

١٢- که د شوګر ناروغ زیاته نا- ارامي، سردرد، د سر څرخیدل او یا ویره محسوسوي، د زړه درزاری یی زیاتیږی او همدا رنګه که زیاته کمزروی محسوسه کړی ، په وینه کی د ګلوکوز مقدار کم شوی دی، د فوری علاج لپاره ورته په یو ګیلاس شیدو یا اوبو کی دوه یا دری کاشوغي بوره (چینی) واچوئ، ددی له څکلو وروسته باید سمدستی معالج ته رجوع وکړی.

تداوی Treatment:

څرنګه چې د شکری ناروغي د انسولین د کموالی او یا ددی هورمون د فعالیت د نه کیدو له امله منځته راځي نو تداوی یی هم په انسولین سره کیږی. د انسولین په مصنوعي جوړښت سره یو وخت داسی فکر کیده چی د شکری ناروغي د ټول عمر لپاره دعلاج قابله شوه، مګر بدبختانه چی داسی ونه شوه. دی طبي تجربو له(١٢) څخه تر (١٥) کلونو پوری ناروغ له دی ناروغي څخه مسکون کړ، خو له دی وروسته یی یو لړ نور اختلاطات لګه د زړه دوره او داسی نور منځته راوړل په هر صورت بیا هم د شکری د ناروغتیا علاج او تداوی ددي په علت او نوعیت پوری تړلی ده. معالج باید د علت او نوعیت سره سم دا ناروغي تر علاج لاندی ونیسي.

مثلاً که په وینه کی د انسولینو (Insulin) کمښت وی باید په انسولین سره تداوی شی او اندازه یی د ناروغتیا د کموالی او زیاتوالی په تناسب ورکول کیږی.

که ناروغ په وینه کی د انسولین کمی نه لري او زیات چاغوالی، بار بار حمل، روحي تشویش او داسی نور اسباب ولری باید په مناسب خوراك، سپورت کولو او د روحي تشویشاتو د عواملو په له منځه وړلو تداوی شي، که بیا هم ناروغي زیاتوالی کوی، په (Sulphonurea) سره معالجه شي. دا درمل په پانقراس کی د انسولین افرازات زیاتوی او همدارنګه انسولین هم فعاله کوی یو بل ډول درمل چی د (Bigunides) په نوم یادیږی، هم ډیر موثر دی، دا درمل له وینی څخه د ګلوکوزو انتقال د بدن حجراتو ته اسانوی.

پرسشهاي شما در پرتو

قرآن و سنت

برادر گرامي ما آقاي عبدالباري از كيمپ جلوزي براى ما نامه نوشته و بعد از سلام و احوال پرسي مسنونه از ما پرسيده اند كه:

۱- در بارهء سجده سهو بما معلومات دهيد؟ بعضي اشخاص ميگويد كه بعد از اتمام نماز وقتي حرف بزند، سجده سهو جايز نيست حقيقت را در روشني آحاديث معتبر و اقوال علماء سلف روشن نمائيد؟

۲- آيا رفتن زنها به مساجد جواز دارد يا خير؟

جواب (بعون الله):

برادر عزيز! براى ارائه جواب سوالات شما به علماء كرام مراجعه نموديم آنها در روشني آحاديث صحيحه چنين فرمودند.

بعضي علماء ميگويند كه به ترك واجب و تأخير فرض سجده سهو واجب ميگردد، ولي در حديث شريف تصريح شده كه: «عن ابي سعيد الخدري (رضي الله عنه) قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : «إذا شك احدكم في صلاته فلم يدركم صلّى ثلاثاً ام أربعاً فليطرح الشك و اليبن على ما استيقن ثم سجد سجدتين قبل أن يسلم» (رواه مسلم -۱/۲۱۱)

ترجمه: از ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت است كه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمود: وقتي كسي از شما در نمازش شك كند كه چند ركعت را اداء نموده است، سه يا چهار؟ شك را دور و به يقين عمل نمايد و در آخر پيش از سلام دو سجده اداء كند.

در حديث ديگرى از پيامبر اكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد است كه : «عن عبدالله بن مالك بن بحينة الأزدي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قام في الشفع الذي يريد أن يجلس في صلواته فمضى في صلوته فلما كان في آخر الصلوة سجدقبل أن يسلم ثم سلّم» (رواه مسلم - ۱/۲۱۱)

ترجمه: از عبدالله بن مالك بن بحينة الأزدي رضي الله عنه روايت است: كه رسول الله صلى الله عليه وسلم به نماز ايستاد، بعد از دو ركعت كه ميخواست بنشيند وقعده نمايد، نه نشست ونماز خودرا ادامه داد و پيش از كشتاندن سلام سجده كرد و سلام گشتاند.

همچنين ارشاد ديگري از نبي كريم صلى الله عليه وسلم است كه: «عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى الظهر خمساً فقيل له ازيد في الصلاة فقال و ما ذلك قالوا صليت خمساً فسجد سجدتين بعد ما سلم و في رواية تقول إنما أنا بشر مثلكم أنسى كما تنسون فإذا نسيت فذكروني واذا شك احدكم في صلاته فليتحر الصواب فليتم عليه ويسلم ثم يسجدسجدتين»

(رواه البخارى و مسلم -مشكوة ص:۱۹۲)

ترجمه: از عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت است

که رسول الله صلی الله علیه وسلم نماز پیشین را پنج رکعت اداء نمودند، و گفته شد، آیا در نماز زیادتي شد؟ فرمود: آن چیست؟ صحابه کرام گفتند شما پنج رکعت نماز اداء نمودید، پس بعد از گردانیدن سلام دو سجده را اداء نمودند و در روایت دیگری آمده که فرمود: بیشك من ما نند شما یك بشر هستم فراموش میکنم چنانچه شما فراموش میکنید، وقتي فراموش کردم، برایم یاد آوري نمائید ووقتي کسی از شما در نمازش شك نماید پس او برای بهتر نمودن نمازش کوشش کند و نماز خویش را پوره نموده سلام بگرداند بعداً دو سجده اداء کند.

در روایتي از مسلم میخوانیم که: «عن ابراهیم بن سوید قال صلی بنا علقمه الظهر خمساً فلما سلم قال القوم یا ابا شبل قد صلیت خمساً قال کلا ما فعلت قالوا بلی قال و کنت في ناحیة القوم و أنا غلام فقلت بلی قد صلیت خمساً فقال لي و انت ایضا یا اعور تقولوا ذلك قال قلت نعم قال فانفتل فسجد سجدتین ثم قال قال عبدالله صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم خمساً فلما انفتل توشوش القوم بینهم فقال ما شانکم؟ قالوا: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! هل زید في الصلوة؟ قال: لا قالوا انك قد صلیت خمساً فانفتل ثم سجد سجدتین ثم سلم» (رواه مسلم -ج۱-ص ۲۱۲)

ترجمه: ابراهیم بن سوید رحمه الله میگوید که ما به امامت علقمه رحمه الله نماز پیشین را پنج رکعت اداء نمودیم وقتي سلام گشتاند، مردم برایش گفتند که یا ابو شبله! شما پنج رکعت نماز اداء نمودید، او گفت من هرگز پنج رکعت نخوانده ام، مگر مردم گفتند که شما پنج رکعت اداء نمودید. ابراهیم میگوید که من یك طرف مردم استاده و بچه بودم، گفتم براستي شما-پنج رکعت اداءنمودید، پس او برایم گفت که اي کر، شما هم این حرف میزنید؟ گفتم بلی میگوید که او بر گشت و دو سجده را اداء نمود، سپس گفت که عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه گفته است که رسول الله صلی الله علیه وسلم بما پنج رکعت نماز داد، وقتي از نماز فارغ شد و بر گشت، مردم بین خود با هم حرف میزدند، فرمودند که این چه حال است؟ گفتند: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! آیا در نماز زیادتي آمده است؟ فرمودند: نه، گفتند که بیشك شما پنج رکعت نماز اداءنمودید، پس بر گشت و دو سجده اداء نمودند، وسلام گشتاندند.

همچنین اگر مصلي نمازش تمام نه شده باشد وسلام بگرداند وقتي یادش آید ویا برایش معلوم گردد که نمازش ناقص است و کدام رکعتش مانده است، درینصورت الله اکبر گفته برخیزد نمازش راپوره نموده، دو سجده اداء کند وسلام بگرداند، طوریکه در حدیث شریف میخوانیم که: «عن عمران بن حصین أن رسول الله صلی الله علیه وسلم صلی العصر، فسلم في ثلاث رکعات ثم دخل منزله فقام الیه رجل یقال له الخرباق و کان في یدیه طول فقال یا رسول الله فذکر له صنیعه و خرج غضبان یجر رداءه حتی انتهی الی الناس اصدق هذا؟ قالوا: نعم، فصلی رکعة ثم سجدسجدتین ثم سلمّ» (رواه مسلم ج ۱-ص ۲۱٤)

و بهذا قال جمهور العلماء من السلف والخلف و هو قول ابن عباس و عبدالله بن زبیر و اخیه عروة وعطاء و الحسن و الشعبي و قتادة و الأوزاعي و مالك والشافعي و احمد و جمیع المحدثین» (رحمهم الله) (شرح نووي-ج ۱-ص ۲۱٤)

ترجمه: از عمران بن حصین رضي الله عنه روایت است که یك روز رسول الله صلی الله علیه وسلم نماز عصر را سه رکعت اداء نموده و بعد از گردانیدن سلام به خانه خود تشریف برد پس شخصي عقبش رفت که اورا «خرباق» میگفتند و دستهایش دراز بودند او قصه نماز را براي نبي علیه السلام بیان نمود، رسول الله صلی الله علیه وسلم برآشفته بر آمد و با چادر کشال نزد مردم رسید، فرمودند: آیا این (خرباق) راست میگوید؟ آنها گفتند: بلي، پس یك رکعت نماز را خواندند و دوسجده کردند و سلام گشتاندند.

این قول را علماء جمهور از سلف و خلف نیز تائید نموده است و هم این قول از ابن عباس و عبدالله بن زبیر و برادرش عروة و عطاء وحسن وشعبي و قتادة و اوزاعي و شافعي و مالك و تمام محدثین رضي الله عنهم میباشد.

بناءً از فعل رسول الله صلى الله عليه وسلم و صحابهء کرام رضي الله عنهم بصراحت ثابت میشود که به اثر فراموشي و گمان اینکه نماز تمام شده است حرف بزند، نماز باطل نمي شود.

تحقيق فقهي: مذهب امام ابو حنيفة رحمه الله اینست که حرف زدن نماز را باطل مي سازد (در اثر فراموشي باشد ویا قصدي) مطابق مذهب احناف مصلیّ بعد از حرف زدن مجبور است که دو باره بر خیزد از سر نماز بخواند مقلدين امام صاحب و خصوصاً امام الزهري میگوید که حدیث ذو اليدين منسوخ است چون این ذواليدين در غزوه بدر شهید گردیده و ذواليدين با ابو هريرة هرگزندیده است چون ذواليدين در سنه (٢هـ) شهید گردیده و ابو هريرة در سنه (٧هـ) به مدینه آمده است، پس معلوم میگردد که در حدیث ارسال موجود بود.

امام نووي در شرح نووي (مسلم) صفحه (٢١٤) میفرماید: «ابو عمر بن عبدالبر در «تمهید» ذکر نموده است که این ادعای شان که حدیث ابو هريرة با حديث عبدالله بن مسعود منسوخ گردیده درست نیست، زیرا که درین باره بین مؤرخين و اهلحديث اختلاف نیست که حدیث ابن مسعود در مکه معظمه بوده وقتي او پیش از هجرت از سفر حبشه باز گشت و حدیث ابو هريرة در قصه ذواليدين در مدینه منوره بوده که ابو هريرة در سال خیبر یعني در سنه (٧) هجري بمدینه آمده بود، درین باره هیچ اختلاف نیست، این سخن که ابو هريرة درین موقع حاضر نبود درست نیست، بلکه باساس روایت حفاظ و علماء معتبر و ثقه حضور ابو هريره ثابت است. در احادیث صحیح و صریح بخاری و مسلم و روایات دیگر أئمه و محدثين چون احمد و غیره حضور ابو هريرة در قصه ذواليدين ثابت است، اما تا جائیکه مسئله با شهادت ذواليدين در غزوه بدر ارتباط دارد، این موضوع بکلي فاسد است، زیرا که در غزوه بدر ذواليدين شهید نه شده بلکه ذوالشمالين شهید شد است. حافظ ابن عبدالبر در کتاب «استذکار» خود مینویسد که در غزوه بدر ذوالشمالين شهید گردیده است و ذواليدين آن شخص نیست که در بدر شهید گردیده است دلیلش اینست که ابو هريره و با او کساني درین نماز شرکت داشتند که قبول نمودن اسلام شان بعد از غزوه بدر اتفاق افتاده بود، همچنین علامه عبدالرحمن مبارکپوری میگوید: قولیکه در آن ابو هريرة در قصه ذواليدين حاضرنبود باطل است بلکه حضورش در آحادیث صحیح و صریح ثابت است.

همچنین حافظ ابن حجر عسقلاني تصریح نموده است: «اتفق ائمة الحديث كما نقل ابن عبدالبر و غيره على أن الزهري و هم على ذلك» (فتح الباري-ص ٢٣٧)

ترجمه: أئمه حدیث برین اتفاق دارند که این وهم امام زهری است طوریکه این سخن را ابن عبدالبر و دیگران نقل کرده است.

بناءً از تحقيق فوق و آحادیث عمران بن حصین و ابراهيم بن سوید معلوم گردید که کسي اگر عوض چهار رکعت نماز سه و یا پنج رکعات نماز بخواند، و قتي برایش معلوم گردید که در نمازش زیادتي و تنقیصي رخ داده است، اگر حرف هم زده باشد، نمازخود را پوره نموده، سجده سهوه اداء نماید بعداً سلام بگرداند، برای برگرداندن تمام نماز ضرورت نیست.

٢- در باره جواب سوال دوم شما عرض مي شود که در صدر اسلام زنها مانند مردها به مساجد میرفتند و در مساجد نمازهای پنجگانه خودها را اداء می نمودند، ولي با سپری شدن زمان و پدید آمدن فسادات، علماء این را مصلحت و خیرامة مسلمه دانستند که زنها به مساجد نروند و حالا نیز در بعضي مناطق وقتي بیم فساد نباشد زنهای پیر ساله به مساجد میروند.

در حدیث شریف ارشاد است که: «عن عايشة رضي الله عنها قالت كنا نساء المؤمنات يشهدن مع رسول الله صلى الله عليه وسلم صلوة الفجر» (رواه البخاري-١/٥٤)

وعنها قالت: اعتم رسول الله صلى الله عليه وسلم في العشاء حتى ناداه عمر قد نام النساء و الصبيان» (رواه

البخاري۳/۱۱۹ مجبتائي).

ترجمه: عایشه رضي الله عنها گفت که زنهای مؤمن با رسول الله صلی الله علیه وسلم در نماز فجر حاضر می شدند و در روایت دیگر میفرماید که رسول الله صلی الله علیه وسلم شبي نماز خفتن را تاخير نمودند و عمر رضي الله عنه برایش صدا کرد که زنها و کودکان بخواب رفتند.

در حدیث دیگری ارشاد است که: «عن هند بنت الحارث ان ام سلمه زوج النبي صلی الله علیه وسلم اخبرتها ان النساء في عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم كن اذا سلمن من المكتوبة قمن و ثبت رسول الله صلی الله علیه وسلم و من صلی من الرجال ماشاء الله» (رواه البخاري /۱/۱۱۹)

ترجمه: ام سلمه رضي الله عنها میگوید که در عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم وقتي زنها از نماز سلام مي گشتاندند براي رفتن مي ایستادند و رسول الله صلی الله علیه وسلم و مردهای دیگر تا وقتي که خواست الله تعالی بود مي نشستند.

در روایت دیگری میفرماید : «عن ابن عمر رضي الله عنهم قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تمنعوا اماء الله مساجد الله» (رواه مسلم- ۱/۱۸۳-و ابوداؤد -۱/۲۸٤) و عنه اذا استأذنت امراة احدكم الى المسجد فلا يمنعها» (رواه بخاري /۱/۱۲۰ ومسلم ۱/۱۸۳ و مشكوة/۱/۹٦) و في رواية البخارى اذا استئذنكم نسائكم بالليل الى المسجد فاذنوا لهن» (مجتبائي/۲۹۱».

ترجمه: ابن عمر رضي الله عنهم میگوید که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است کنیزهای الله تعالی را از مساجد الله تعالی منع نسازید و در روایت دیگز از همین ابن عمر رضي الله عنهم آمده است که از جمله شما اگر زن کسي از وی اجازه رفتن به مسجد بخواهدمنع نکنند.

و در روایت دیگری از بخاری آمده است که اگر زنهای شما شب هنگام اجازه رفتن به مساجد را بخواهند، اجازت دهید.

در حدیث دیگری ارشاد است که: «عن بلال بن عبدالله بن عمر عن ابيه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «لا تمنعوا النساء حظوظهن من المساجد اذا استاذنكم فقال بلال: والله لنمنعهن فقال له عبدالله اقول قال رسول الله صلی الله علیه وسلم و تقول انت لنمنعهن، وفي رواية سالم عن ابيه قال فاقبل عليه عبدالله فسبّه سبا ما سمعت سبه مثله قط و قال اخبرك عن رسول الله صلی الله علیه وسلم و تقول والله لنمنعهن» (رواه مسلم/ ۱/۸۳ مشكوة ص ۹۷)

ترجمه: بلال بن عبدالله بن عمر رضي الله عنهم میگوید که ابن عمر رضي الله عنه گفت که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است: وقتي زنها از شما اجازه رفتن به مساجد بخواهند ، آنها را منع نکنید، بلال بن عبدالله گفت که قسم به الله تعالی است که ما حتماً آنها را منع میکنیم پس عبدالله برایش گفت که من میگویم که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است و شما میگو ئید که ما حتماً آنها را منع مینایم ودر روایت سالم بن عبدالله از پدرش عبدالله بن عمر رضي الله عنهم آمده است که پدرم عبدالله بر سرش قهر شد و چنان نفرین کرد وناسزا گفت که ما آنها را هیچوقت با چنین حالت ندیده بودم و برایش فرمود که من از قول پیغمبر صلی الله علیه وسلم برایت خبر میدهم وتو میگوئی که قسم است ما حتماً آنها را منع مینایم و در روایت دیگری از مجاهد آمده است که عبدالله بن عمر رضي الله عنهم تا هنگام مرگش با پسر خود حرف نزد.

برادر عزیز! از آحادیث و رهنمودهای فوق نتیجه میگیریم که آمدن زنها به مساجد اگر خوف فساد نباشد نه تنها مانعي ندارد بلکه اجر بیشتر دارد ولي اگر خوف وبیم فساد میرود ضرور نیست.

با مید نامه های دیگر تان

(اداره)

د نبوي ملغلرو امیل

په تیریسی

د نارامي په وخت کي دعا:

له حضرت انس نه روایت دی چي کله به رسول الله صلي الله علیه وسلم نارامه شو نو دا دعا به ئي لوستله.

یَا حَيُ یَا قَیُومُ برحمَتكَ اَستَغیثُ (مشکوة باب الدعوات في الاوقات فصل سوم)

ترجمه: ای تل ژوندیه! ای تل قایمه!(الله) زه ستا د رحمت امید لرم.

د نوی میاشتی د لیدو دعا:

حضرت طلحه بن عبید رضی الله عنه روایت کوي چي کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم نوي میاشت ولیدله نو دا دعا به ئي لوستله:

اَللّٰهُمَّ اَهِلَّه عَلَینَا بِالاَ مِن وَالایمَانِ والسلَامَةَ وَالأسلاَمِ رَبِیّ وَ رَبُكَ اللّٰهُ(مشکوةباب الدعوات في الاوقات فصل دوم)

ترجمه: الهي ! دا میاشت په مونږ باندي له ایمان،اسلام او امن سره راخیژوه. ای میاشتی زما او ستا رب الله دی..

د روژی ماتولو دعا:

۱-اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمتُ وَعَلی رِزقِكَ اَفطَرتُ(مشکوة ص ۱۷۵کتاب الصوم)

۲-ذَهَبَ الظَمأُوابتَلَّت العُرُوقَ وَثَبَتَ الاَجرُ اِنشَآء اللّٰهُ(مشکوة ص۱۷۵کتاب الصوم)

ترجمه:الهی! ما د تا لپاره روژه نیولی وه او د تا په رزق باندی مي ماته کړه.

۲-تنده ماته شوه او رگونه لانده شو که الله وغواړي ثواب ثابت شو.

د نویو جامو د اغوستلو په وخت کي دعا:

له حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که چانوي جامي واغوستلي او دا دعا ئي ولوستله او زړی جامی ئي دالله تعالی په نوم ورکړی نو د الله تعالی په حفاظت کی به وی!اَلحَمدُلِلّٰهِ الَّذِی کَسَانِي مَآ أُوَارِي بِهِ عَوَرَتِي وَاتجَمَّلُ بِه فِي حَیَاتِي(مشکوة کتاب اللباس- دریم فصل)

ترجمه:د ثناء وړدی هغه الله چی ما ته ئي راواغوستل هغه جامه چي خپل ستر پري پټ کړم او په خپل ژوند ئي زينت حاصل کړم.

دويمه دعا:حديث شريف کي راځي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله جامه اغوستله نو د هغي نوم به ئي واخيست،مثلاً دا څادر، قميس يا پټکی دی،بيا به ئي دا دعا ولوستله:

الحمدلله الذي کساني هذاالثوب و رزقنيه من غير حول مني و لاقوة

ترجمه:دکمال صفتونه دی هغه الله لره چی وائي غوسته ماته دا جامه او رائي کړه ماته په غير د طاقت زما نه(ابو داود۲/۲۳ ٤٠٤-ابن ماجه۳۲۸۵-وسنده حسن)

ملګرو ته د جامو د مبارکۍ ورکولو دعا:

حديث کی راځي کله به چی صحابه کرامو رضي الله عنهم کي چانوي جامی واغوستلی نو دا دعا به مونږ ورته کوله.

اَبلِ وآخلِق (ابو داود٤٠٢٤-بخاري رقم۵۸۲۳)

ترجمه:زړه دی شي دا جامه په تا باندی.يا دا چي .تبلی وَ يُخلفُ اللّهُ تَعَالی(ابو داود رقم ۱۸۳۸-وسنده صحيّح)

د جامو د ويستلو په وخت کی دعا:

حديث کي راځي کله چي انسان د غسل د پاره جامه اوباسي نو دا دعا به وائی،ليکن علماء فرمائی چي د خوب يا د بولو کولو لپاره هم دا دعا لوستلی شي،ځکه چي په دي ټولو حالاتو کي عورت ښکاره کيږي،دعا دا ده:

بسم الله الذی لااله الاهو ط

ترجمه:په نوم د هغه الله چی د هغه نه سوا بل د عبادت لائق نشته(ابن السنی رقم۲۷۳-ارواء الغليل٥٠-صحيح لغيره)

په آينه کی د کتلو دعا:

ګڼ شمير صحابه ؤ روايت کړي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به په آينه کی د کتلو په وخت کي دا دعا لوستله!

اَللّهُمَّ کَمَا حَسَّنَتَ خَلقِی فَحَسِّن خُلقِي(نزل الابرارص۳۷۲).

ترجمه:الهي!لکه څرنګه چي زما صورت دی ښه جوړ کړي داسي زما سيرت هم ښائسته کړه.

د مجلس د ګناهونو کفاره:

له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول صلی الله عليه وسلم وفرمايل:که چاپه مجلس کی غلطی خبری وکړي نو بيا دی د پاڅيدو په وخت کي دا دعا ووائي چی کړی ګناهونه ئي معاف شي.

سُبحنَکَ اللّهُمَّ وبَحمدِکَ اَشهَدُ اَن لاَ اِلهَ اِلاَّ اَنتَ اَستَغفِرُکَ وَاَتوبُ اِلَيکَ(جامع ترمذي ص۱۸۱جلد۲-باب مايقول اذا قام من مجلسه)

ترجمه:ای الله!ته له خپلوښيګڼو سره پاك ئی،زه ګواهي ورکوم چي له تا پرته بل څوك د عبادت وړ ندی، بخښنه غواړم او تاته رجوع

کوم.

د مصيبت په وخت کی دعا:

له حضرت ابوسعيد خدرئ رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل!که څا کوم داسی سړی وليدچي په تکليف اخته ؤ نو دا کلمی دی ولولي، الله تعالی به د هغه تکليف ليری کړي.

الحمدلله الذي عافاني مما ابتلاك به و فضلنی علی کثير ممن خلق تفضيلاً(مشکوة باب الدعوات في الاوقات -دويم فصل)

ترجمه:د الله شکر دی چي زه ئی له دغه بلا څخه ساتلی يم کوم چي ته ئی پری اخته کړي ئی او ما ته ئی په نورو خلکو فضيلت راکړي دی.

دويمه دعا:

انالله واناالیه راجعون -اللهم اجرني في مصيبتی واخلف لی خيراًمنها(مسلم ١/ ١٤٠).

ترجمه:مونږ د الله تعالی يواومونږه ده ته ورگرځيدونکي يو.ای الله!ثواب راکړی ماته په مصيبت زما کي او بدله ئي له دي نه غوره راکړی!

د قرضونو بيرته ورکولو په وخت کي دعا:

له حضرت ابو سعيد خدرئ رضي الله عنه څخه روايت دی چي په يوه سړی باندي قرض ؤ،رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته وويل چي زه به داسي سبق دروښايم چي که سهار او ماښام ئي ولولي نو ته به له غم او قرض نه نجات ومومی.

اللهم اني اعوذبك من الهم و الحزن واعوذبك من العجز و الکسل واعوذبك من البخل والجبن و اعوذبك من غلبة الدين و قهرالرجال(مشکوة باب الدعوات في الاوقات -دويم فصل)

ترجمه:الهي!زه له غم او فکر څخه د تا پناه غواړم او پناه غواړم له سستي او کمزوري څخه او پناه غواړم له بخل او بزدلي څخه او پناه غواړم د قرض له غلبی او د خلکو له فشار څخه.

بله دعا:

له حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو غلام عرض وکړ چي زه غواړم خپل بادار(مالك)ته قرض ژر ورکړم او آزاد شم که ته له ما سره مرسته وکړي.بيا حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل چي زه به تا ته دوه کلمي دروښيم کومي چي ما ته رسول الله صلي الله عليه وسلم راښودلي دي که چيري په تا باندي د غره په څير قرض هم وي نو الله تعالی به ئي درنه لری کړي.

اللهم اکفنی بحلالك عن حرامك واغننی بفضلك عمن سواك(مشکوة باب الدعوات في الاوقات-دويم فصل)

ترجمه: الهي! په حلاله روزۍ باندي زما حاجتونه پوره کړي او له حرامو څخه مي وساتي او ما بی پروا کړي په خپل فضل سره.

(نور بيا)

د تنظیم طلبه سلفیه د کړنګل د حوزې غونډه

د جماعت الدعوت الي القرآن والسنة د دعوت او ارشاد د ځانګي د رپوټ له مخي څو موده وراندي د تنظيم طلبه سلفيه د کړنګل د حوزي د کړنګل په کلي کي يو سراسري کنفرانس جوړ شو او په اړونده مسئلو ئي خبري وکړي او د دعوت په کار کی ئی د هر چا وظيفي مشخصي کړي.

دغه کنفرانس چي د حاجي شمشير خان تر صدارت لاندي جوړ شوي وو اوله دوه زره څخه زياتو عالمانو،طا لب علمانو او قومي مشرانو په کي ګډون کړی ؤ.

پیوسته تردي چي د کنفرانس کار د قرآن کريم د څو مبارکوآياتونو په لوستلو سره پيل شو. د کنړونو والي الحاج غلام صادق «قاضي اخونزاده» وينا وکړه او د دغسي کنفرانسونو د جوړيدوپه ضرورت ئي ټينګار وکړ.

«قاضي اخونزاده»وويل: الله تعالي چي انسانان او جنات پيدا کړي دي، دا ئي د يو خاص مقصد د پاره پيدا کړي چي هغه يوفکري او عقلي قوت دي او انسان د هغه په ذريعه حق د باطل څخه بيلولي او مشخص کولي شي،همدارنګه الله تعالي چي محمد صلي الله عليه وسلم په پيغمبري مبعوث کړي او پر هغه باندي ئي قرآن کريم نازل کړيدي ،د ا هم د خلقو د هدايت او رهنمائي يوه سپيڅلي وسيله ده.څو يو شي چي انسان وړباندي مکلف کړي شوي دي، هغه د لايزال رب عبادت دي .ده ووئيل: هر کله چي زمونږ الله يو دی، زمونږ پيغمبر يو دي ،دين مو يو دي نو بيا ولی زمونږ په خپلو منځو کي شخړي او لانجي د يوي ورځي نه بلي ته زياتيږي؟دي زياته کړه که چيرې مونږ قرآن او نبوي سنتو ته رجوع وکړو، زمونږ ټول ديني او دنياوي مشکلات به حل او د صميميت او وروروليږ يوه ښه فضا به پيدا شي خو په دي شرط چي مونږ په حقه سره په حبل الله باندي منګولي ولګوو او د دنيا حرص د ځانه لري کړو.

هغه زياته کړه: اسلامي حکم دادي چي د مسلمانانو حاکم او خليفه به يو وي، ځکه چي اسلامي ملت امة واحده دي، په دی اړوند امام الجهاد شيخ جميل-

الرحمن شهید ۳۲کاله مخکي خلکو ته ترغیبونه او بیعتونه ورکول شروع کړی وو نو ځکه د نړۍ په گوټ گوټ کي ورنه د اسلام دښمنان ویریدل او په مجاهدینو کي د بي اتفاقۍ تحریکونه او شیطانتونه شروع کړل ،خو هماغسي چي شیخ رحمه الله جهاد شروع کړ، ورسره جوخت ئي د بي اتفاقۍ د ختمولو مبارزه هم جاري ساتلي وه،نو دښمنانو خپل انتقام واخست او شیخ جمیل الرحمن ئي په پوره بي رحمۍ او بي دردۍ سره شهید کړ (روح دي ښاد وي).

د کونړ والي ووئیل: **مونږ دلته په کونړ کي د اسلامي اداري د ټینگښت د پاره په دغه موادو باندي عمل کول غواړو.**

***اول دا چي په افغانستان او خاصتاً په کنړونو کي به اسلامي قوانین جاري کوو.**

***مطمین امنیت به تامینوو.**

***خلکو ته به په نیکۍ سره دعوت ورکووا او هغه منکرات چي قرآن او سنت ورته بد ویلي هغه به بندوو.**

***دمسلمانانو تر منځ به ژبنۍ ، قومی، منطقوی او مذهبي توپیر ختموو.**

***عامي لارې د خلکو پر مخ به خلاصوو په بازارانو او پلورنځایونو کی به د نرخونو کنټرول او عادلانه چلند په پوره زیرکتیا ځارو.**

***د ملي شتمنیو ساتنه به په پوره ایماندارۍ کوو.**

***د نظام الصلاة په قایمولو او د اسلامی قوانینو په ضابطی سره به د هر ډول فحاشي او مخدره موادو مخه نیسو.**

***د خارجي لاس وهني او د اسلام دښمنه اشخاصو د منحوثو عزایمو د مخنیوی لپاره هر ډول قربانۍ ته تیار یو او ټول به په یوه مصلحت کار کوو.**

د مجلي د راپورتر د رپوټ مطابق د سلفیت په دي کنفرانس کي په خپل وار سره هر یو مولوي عزیزالله،مولوي نصرالله، مولوي عبدالرحمن، مولوي مجیب-الرحمن، مولوي عبدالواحد، مولوي فضل گل،نجیب الله خان،مولوي محمد فهیم،مولوي محمد افضل،مولوي عبدالکریم،امین الله خان او د کنفرانس ناظم مولوي حنیف الله «حنیف» برخه اخستي او د موضوع په ارتباط ئي مفیدی وینااوي وکړي او د سلفیت په چوکاټ کي ئی د هر عالم د دعوت چلولو چاري مشخصي کړي .بالاخره کنفرانس د امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)روح او په گران هیواد افغانستان کي د قرآن او سنت په سیوري کي د اسلامي امنیت د قایمیدلو په دعاء پاي ته ورسید.

ستاسو ليك راورسيد

دعوت مجله- پوست بکس نمبر٦١٤ جي پي او پشاور پاکستان

د دير ضلع د طور کيمپ څخه زمونږ وروړ محمد ظاهر«سعادت»د خپل ليك په ترڅ کي يو لنډ مضمون هم راستولي او د نشر غوښتنه ئي کړي ده،دا چي مونږ دغه مضمون ولوست دا راته جوته شوه چي ښاغلي محمد ظاهر د مضمون ليکلو ښه استعداد لري، اداري ورپتيله چي ستاسو دغه مضمون کټ مټ خپور کړي او د راتلونکي د پاره هم خپله قلمي همکاري د دعوت د مجلي سره جاري وساتي.

وائي چي يو ماشوم هلك د يوي ويالي په غاړه ناست ؤ او يوه مرغۍ ئي په وياله کي وينځله چي د يو تن پري پام شو او ورته ئي وويل: ای ماشومه! دا څه کوي ؟ته خو دغه مرغۍ پدي يخو اوبو کي وژني؟

خوماشوم ئي خبرې له هيڅ اهميت ورنکړ.

کله چي هغه سړي راوپس شو نو گوري چي مرغۍ مړه پرته ده او ماشوم ورته ژاړي.هغه سړي ورته وويل:ما درته نه وو ويلي چي دا مرغۍ پدي يخو اوبو کي وژني ؟

ماشوم په ژړا ژړا کي ځواب ورکړ: دا خو په يخو اوبو او لمبا کي رانه نده مړه شوي بلکی په نچوړيدو کي رانه مړه شوه.

نو ښايسته کابل په ١٤کلن جهاد کي نه ؤ خراب شوي خو نن زمونږ قوماندانانو او مشرانو په نچوړيدو(د قدرت او چوکۍ په گټلو)کي وزان کړ.هغه مشران او قوماندانان چي پخوا به ئي د کمونستانو په خلاف خلك د جهاد لور ته رابلل، نن د قدرت د گټلو په خاطر د هم هغو دښمنانو ملگرتيا ته محتاج دي چي نن ئي ښکلي افغانستان د هلاکت او تباهۍ سره مخ کړ،ډيري ميندي بوري،ډيري ښځي کونډي،ځوك معيوب،ځوك شهيدان او گڼ شمير ماشومان يتيمان شول چي اوس

هم د هجرت ترخې شپې او ورځې تیروي.نو مشرانو!زمونږ په حال لږ ورحمیږي!مونږ سوله او امن غواړو! خپل ویجاړ کوراو کلي ته دوباره تګ غواړو!
ای د افغانستان مشرانو!د الله تعالی په خاطر د جنګ جګړې او بې اتفاقۍ نه لاس واخلئ او مونږ پریږدئ چې لږه شان خپله ساه سمه کړو .دغه حرکات چې نن ورځ تاسو مشرانو شروع کړیدي پدې حال ماله ژړا راځي،دا حالت چې زه وینم دا د ١٤کلن جهاد سره او د خپل بې کوره شوي اولس سره خیانت کول دي.
ځرګنده خبره ده چې تاسو مشرانو او قوماندانانو د افغانستان زوریدلي ملت د ناتار سره مخامخ کړیدي،کله یو مسلمان په بل مسلمان او کله یو مجاهد په بل مجاهد وژنئ
هغه مشران او قوماندانان چې د هغوي نه زمونږ دا ارزو وه چې د ویجاړ شوي افغانستان نه به راته ګلستان جوړوي نو د ګلستان په ځاي ئې راته په ښکلي افغانستان کې د نفاق او اختلاف تخمونه وکرل او هغه امیدونه او ارزوګاني چې ١٤ کلونه زمونږ په زړونو کې پرتې وي،زمونږ مشرانو او قوماندانانو د خاورو سره خاورې کړې.نو رب العلمین دې د افغانستان د پاکې خاورې نه دغه د بې اتفاقۍ تغر راټول کړي او په ټول اسلامي امت کې دې الله تعالې اتفاق او ورورګلوي پیدا کړي.امین!

****

د دعوت او جهاد د پوهنتون د اینجنیرۍ د دوهم صنف محصل عطاالرحمن «زهیر» د دعوت مجلې په نوم یو اوږد لیك د خپلو خوږو مشورو سره رالیږلي چې مونږ ئې ځنې معقولې مشورې نشرته سپارو.
زهیر صاحب د مسنون دعا اوسلام او د دعوت مجلې د زیات توصیف وروسته لیکي :
زما اولني تجویز دا دې چې ستاسو د مجلې د ټایپ لیکنه اکثره ډیره زیاته لویه وي،مهرباني وکړئ لږ په کوچني خط مضمون نشرته سپارئ ،ځکه په مجله کې به زیاتومطالبو ته ځاي ورکول کیږي.
باید په مجله کې د مشخصو کسانو مضامین،اشعار او مطالب نشر ته ونه سپارل شي،بلکه د لوستونکو نه هم مطالب وغوښتل شي.
د مظلوم شهید د وینا اهمې جملې د هرې مجلې په وروستۍ صفحه کې باید هرومرو نشر شي.
په آخر کې زهیر صاحب د دعوت د مجلې د توزیع په باب زیات شکایت کړي او د مشرانو نه ئې د دعوت الي الله په لور د زیاتې توجه غوښتنه کړیده.

****

د خار باجوړ ځخه زمونږ گران ورور خان محمد«صافي»ددعوت د مجلي په نوم ليك راستولي او د مجلي كاركوونكو ته ئي زيات سلامونه او احترامات وړاندي كړي او دمجلي زيات تعريف ئي كړي دي.
د دعوت د مجلي ټول كاركوونكي هم د هغه سلامونو ته وعليكم السلام وائي،د مجلي د ستايني مو يو جهان شكريه.

****

د مردان د تفهيم القران له مدرسي نه گران او محترم ورور سميع الله «محسني»صاحب د دعوت د مجلي په نوم ښكلي ليك راستولي او د دعوت مجلي زيات تعريف او توصيف ئي كړي.
دغه ورور ليكي . دا چي تاسو د زياتو اقتصادي او فني مشكلاتو باوجود دغه مجله نشروئ او د دعوت الي الله غږ د هر چا غوږو ته رسوئ.الله تعالي دي زيات اجر درپه برخه كړي .
گرانه وروره ! د دعوت د مجلي كاركوونكي هم ستا د نيكو احساساتو مننه كوي، الله تعالي دي د علم د زده كړې په لاره كي برياليي لره!

****

د باجوړ د رشكۍ د دوهم نمبر كمپ ځخه نيازگل «زاهد»او نورعلي خان صاحبان د دعوت مجلي په نوم ليك راستولي او وروسته له سلام نه ئي په دعوت مجله كي د شيخ جميل الرحمن شهيد د ويناؤ د نشرولو زياته ټينگتيا كړي او دا ئي هم ويلي چي د طالبانو د تحريك په باب د جماعة الدعوة پاليسي څه ده؟.
ورونو! مونږ كوشش كړي چي د شيخ جميل الرحمن رحمه الله ويناگاني وخت په وخت نشر كړو، پدي رابطه مونږ د خپلو لوستونكو ورونو نه هم دا غوښتنه كړي چي د شيخ رحمه الله هغه ويناگاني چي تر اوسه ندي نشر شوي او د چاسره ئي كومي كيسټي موجود وي نو مونږ ته ئي بايد راواستوئ.د طالبانو د تحريك په باب د دعوت مجله وخت په وخت معلومات نشروي كتلي ئي شئ.

****

محترم ورور حفي الله «سليم»اوخورشيداحمد«توحيديار» د معهدالامام ابي حنيفة ځخه د دعوت مجلي په نوم ليك راستولي او د مسنون سلام نه وروسته ئي د دعوت مجلي زيات تعريف كړي او د مجلي د راستولو غوښتنه ئي كړي ده.د دعوت د مجلي كاركوونكي ستاسو سلامونو ته وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته وائي،د مجلي د ستايني مو ډيره ډيره مننه!

****

د خبيب شهيد د مدرسي محترم استاد رافت صاحب د دعوت مجلي د كاركوونكو په نوم ليك راستولي او د دعا او اسلام نه وروسته ئي ليكلي چي زما يو شعر د دعوت د مجلي دزرينو اوراقو پر مخ چاپ شو،زه ئي ډيره مننه كوم او همدي خبري وهڅولم چي خپل يو بل شعر د«عظمت شهيد»په نوم تاسو ته درواستوم . هيله ده چي د دعوت په مجله كي ورته ځاي وركړي.

محترم رافت صاحب!

د دعوت له مجلي سره مو د همكاري ډيره شكريه،تاسو خپلي قلمي همكاري ته ادامه وركړئ، مونږ به كوشش كوو چي د دعوت د مجلي د ټولو لوستونكو اشعار او نور مطالب نشر كړو. البته كه د نشر وړ وو.

****

دكونړ ولايت د اسمار د اولسوالي ښخه گران ورور عبدالجلال«حقيار»صاحب د دعوت مجلي ټولو كاركوونكو ته د دعا او سلام نه وروسته ليكي.د جماعة الدعوة په تنظيم پوري به مخالفينو ډول ډول پروپاگنډي كولي او زه هم د دغه ډول پروپاگنډو د تاثير لاندي راغلي وم ،خو يوه ورځ مي د يو دوست سره د دعوت مجله وليدله هغه مي مطالعه كړه او په همدي ډول مي د دعوت څو گڼي نوري هم مطالعه كړي ،اوس ما ته دا څرگنده شوه چي واقعي د دغه تنظيم عقيده د قرآن او سنت سره موافقه عقيده ده او چا چي پدي تنظيم پوري بي ځايه خبري كولي هغوي بدعتيان يعني د قرآن او سنتو مخالف وو.

الله تعالي دي د افغانستان او د نړي د ټولو مسلمانانو په زړونو كي د توحيد د عقيدي سره مينه پيدا كړي.آمين!

****

برادرگرامي محمد صفا «خرم»!

نامه ارسالي شما ضم تصوير تان به دفتر مجله مواصلت نموده به سلام هاي گرم وصميمانه شما كه عنواني كاركنان مجله دعوت فرستاده بوديد وعليكم السلام .

تاجائيكه متن كامل نامه شما خوانده شد جنگ بي مفهوم و بي معني موجوده را تقبيح نموده بوديد ما هم به همين عقيده هستيم كه مسائل في مابين افغانها به جنگ حل نميشود ،جنگها يك مصيبت است و هر چه زودتر بايد به اقسام جنگ ها خاتمه داده شود .از ارسال نامه پر محتوا شما تشكر مينمايم وازچاپ تصوير تان كه فرستاده ايد شرعاً معذرت ميخواهيم ، به اميد همكاريهاي بعديّ تان.سلامت باشيد!

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحیم

و عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال:
«إنَّ اللّهَ تَعَالى يَغَارُ، و غَيْرَةَ اللّهِ أنْ يَأتِيَ المَرْءُ مَا حرَّمَ اللّهُ عَلَيْهِ»
(متفقٌ عَلَيْه)

ترجمه: از ابو هريره رضي الله عنه مرويست كه:
پيامبرصلى الله عليه وسلم فرمود: الله تعالى غيرت مى كند، و غيرت الهى در آن وقت است كه شخص محرمات الله را انجام دهد.

تعزیتي پیغام

قال الله تعالى: (مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَ مِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِر وَ مَا بَدَّلُوْا تَبْدِيلا) (الاحزاب/٢٣)

په ډېرې خواشينۍ سره مو خبر اخيستى چې د دعوت إلى الله داعى، د سلفي تحريک نه سترې کيدونکې کارکن او د افغانستان په جهاد کې د تورې او قلم نامتو مجاهد شهيد پوهاند «أبوادريس» (فضل الرحيم) د روان کال د جون د مياشتې په اوله نيټه د پنجشنبې په ورځ د سهار په اوه نيمو بجوپداسي حال کې چې ددعوت او جهاد پوهنتون ته ئې د تللو اراده درلوده د پيښور د حيات آباد سره نژدې د څو نا معلومو مجرمانو له خوا شهيد کړى شو.

(إنا لله وإنا إليه راجعون).

د شهيد ابوادريس شهادت په اسلامې تحريک او فرهنګ کې په تيره بيا په پښتو او درې ژبو کې هغه خاليګا رامېنځته کړه چې د پوره کولو لپاره ئې ډير وخت او زمان ته اړتيا ده.

مونږ د دعوت مجلې ټول کارکوونکې په داسې حال کې چې د نوموړې روح ته دعاګانې کوو او د رب العزت د رحمت په سيورې کې ورته د اوچت مقام غوښتونکې يو، پاتې کورنۍ ته ئې د زړه د صبر او عظيم اجر غوښتونکې يو. انشاء الله په راتلونکې ګڼو کې به د شهيد ابوادريس لنډې سوانح په ځانګړې توګه نشر ته وسپارل شي.

(اداره)